٦١٣

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

پنځمه ګڼه ۱۳۹۵المریز کال د ثور۴مه د ۱۴۳۷ هـ ق رجب المرجب ١٦مه د ٢٠١٦ ل د اپریل۲۳مه

ترهرڅه وراندې:

سوله

او بیا هم سوله!

حکومت وحدت ملی؛

از نخستین الی آخرین سفر جان کری

افغانان له بیکاری کړې

خو وزارتونه او اداري خپله پراختیایي بودیجه نه شي لګولی!

جایگاه خطیر فتوا

در این روزها فتوای شرعی به مزایده و حراج گذاشته شده است, افراد زیادی دیده می شوند که باکم ترین سرمایهء علمی و دانش شرعی بدون تأمل و پرهیز کاری دربارهء مسائل عمومی بزرگ, فتوا می دهند. حتی بعضی- با شش نفر دانش آموز و دانشجو, تنها خود را گروه رستگار و فرقهء ناجیه تصور می کنند و دیگران راگمراه, مرتد, دروغ گو و گناهکار می دانند.

از نظر آنان دولت مردان کافر, نویسندگان زندیق, شاعران فاجر, عالمان درباری, دعوتگران, فریب کار, کارمندان ستمگر, و تاجران, خیانت کار هستند, و همچون ابو حمزهء خارجی عمل می کنند که روزی به رفیق خود گفت: کسی- جز من و توبه بهشت راه نمی یابد, رفیقش گفت: " سبحان الله! بهشتی که پهنایش به وسعت آسمان و زمین است, فقط دو نفر به آن راه می یابند؟! این بهشت مال تو باشد من نمی خواهم, به یقین این بهشت, آن بهشتی نیست که خداوند به بندگانش وعده داده است."در حدیث آمده است: " اجروُكم على الفتيا اجروُكم على النار"جسور ترین شما بر فتوا کسی است که به ورود در آتش دوزخ دلیر تر وبی باك تر باشد".

چندی پیش من و دکتر سعد البریك با یك جوان گفت و گویی داشتیم, او جوانی است که صرفاً مدرك متوسطه دارد, ترك تحصیل نموده و به شیوهء خود آموز به مطالعه و تحقیق روی آورده است و می کوشد تا نصوص را بدون آموزگار و استاد بفهمد. وی با تحریف نصوص (قرآن و سنت) و تأویل دلایل, برداشت و تصور خنده آوری از چهرهء دین و شریعت اسلامی ترسیم می نمود. وقتی از ابن باز و ابن عثیمین نام بردیم سخنان ناشایستی نثار آنان کرد و به آنان تاخت, شگفت اینکه او دربارهء مسائل اعتقادی, دیه و حقوق جزایی, تولا و تبرا که از مشکل ترین مسائل هستند, اظهار نظر می کرد و فتوا می داد. الحمدلله که بعد از چند جلسه بحث بایکدیگر ذهنش از این وسوسه ها پاك و صاف شد و به اشتباهاتش پی برد.

در زمان عمر رضی الله عنه مردی به نام صبیغ بن عسل بود که فتوا می داد و بدون فهم و رعایت تقوا به بررسی و تطبیق دلایل شرعی اقدام می کند. عمر رضی الله عنه او را احضار کرد و دستور داد تا بر زمین دراز بکشد و سپس در انتظار مردم چند ضربه شلاق بر بدنش نواخت، طوری که بی هوش شد, آن گاه که به هوش آمد گفت:"اصبحناو اصبح الملك لله" (شب را برای خدا به صبح رسانیدیم) عمر رضی الله عنه از او پرسید حالت چطور است؟ گفت: ای امیر مؤمنان! تصوراتی که گرفتار آن شده بودم اینك بر طرف شده است و به لطف الله متعال بهبود یافته ام.

امروزه پایگاه های اینترنتی و شبکه های ماهواره ایی وجود دارد که در آنها مفتی های بی شماری که صلاحیت فتوا ندارند به صدور فتوا اقدام می کنند. آنها نه از قوت استحضار و حافظه و فهم درست برخوردارند و نه از اهداف شریعت چیزی می دانند و نه از شناخت واقعیت بهره ای دارند, با وجود این فتواهایی نامتناسب و سوال برانگیز و ضد و نقیض صادر می کنند.

چگونه می توان آیندهء فرزندان خود و سرنوشت امت اسلام را به دست کسانی بسپاریم که بی محابا در مورد مسائلی که علمای بزرگ دربارهء آنها توقف کرده اند, فتوا صادر می کنند, مسائلی که اگر در زمان عمر پدید می آمد تمام اهل بدر را برای رایزنی و دست یابی به راه حل و پاسخ آنها گردهم می آورد.

چه وقت در جهان اسلام وحتی در سطح جهان مرکز یا اتحادیه ای برای صدور فتوا و هماهنگی در آن, شکل می گیرد که هم به امکانات لازم مجهز باشد و هم علمای راسخ در علم و توانمند در راس آن قرار داشته باشند و فتواها توسط مترجمین به زبان های زندهء دنیا ترجمه شود و از طریق شبکه های ماهواره ای و با خط های تلفن شبانه روزی در اختیار امت اسلام قرار گیرد تا از آن اطلاع یابند"!.باید به کسانی که عجولانه به صدور فتوا اقدام می کنند, همچنین آنان که شتاب زده مردم را کافر, فاسق, بدعتی و گمراه قلمداد می کنند, مکرراً هشدار داده شود:" الايظن اولئك أنهم مبعوثون ليوم عظيم" آیا آنان باور ندارند که در روز قیامت برانگیخته می شوند (و از آنچه کرده و یا گفته اند باز خواست خواهند شد).فتوا به معنای امضا از طرف پروردگار جهانیان است, پس وای بر کسانی که در امضاء از سوی خدای یکتا و قهار اشتباه کنند.

از نوشته داکتر عایض القرنی

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمنی, چهار راهی حاجی محمد داد, سرک ۴, دفتر مرکزی جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۸۱۵۴۴۱۱۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو, چهار راهی انصاری, کتاب فروشی رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر,

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون, مارکیت الله نظر منزل ۲ دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد, نارنج باغ, عبدالحق مېنه, (دکابل د موټرو اډه) د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ټیلیفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

جلال اباد- اسحاقزی مارکیټ, لاندې منزل, اصلاح افکار تلېفون: ۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

گندهار: نوی بنار, د هرات سرک, د سړي جامع غرب طرف نه سوري مېنه د امام ابوحنیفه رح تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر تلیفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام بنار, حمزه مارکیټ تیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا انجمن اخلاق و معرفت شماره های تماس: ۰۴۰۲۳۷۰۱۲ - ۷۸۹۰۰۸۱۵۲

بلخ: گذر استالفی ها, عقب لیسهٔ خانه نور, دفتر ساحوی بلخ ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: مرکز, مدینه مارکیت سرک مسجد جامع, کتاب فروشی سادات, سید عبدالحمید هاشمی, تیلفون: ۰۷۰۰۴۴۹۸۱

لوگر: محمدآغه, واغجان بازار, پهلوی کلنیک حسین خیل, تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د گردیز بنار, مرکزي چوک، د نبي نمایندګي وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر د اکتر محمد گلاب: ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: قلات، عمومي جاده، د نجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمیره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹--۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید شماره تماس: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: سرک ولایت، نا رسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشي: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

تر هرڅه وړاندې: سوله او بیا هم سوله!

یو ځل بیا د سولې په نه شتون کې د هېواد ګوټ ګوټ د جګړو ډګر ګرځېدلی دی او په تېره بیا د کابل وروستۍ چاودنې ډېر هېوادوال د غم پر ټغر کېنول. او د سولې هغه نیم ژوانديې هڅې چې د ډېرو ورسره مخالفت دی، هغه یې هم ټکنۍ کړې.

په دې کې شک نه شته او په وار وار مونږ دا ویلي دي چې تر هرڅه وړاندې سوله د دې ولس او افغانستان ضرورت دی او باید د سولې لپاره هرارخیزې، مخلصانه او ګړندۍ هڅې پیل شي، که نه الله مه کړه هره ورځ به د خپلو هېوادوالو د وژل کېدو نندارې کوو.

دا چې له یوې خوا د سولې خبره کېږي او له بل لوري د جګړې د ډګر په تودولو کې ټولې خواوې ګرمې دي او ددې ټولو ناآرامیو تاوان او زیان یوازې خوار او غریب افغانان ورکوي، نه ددې نا امنیو تأثیر پر امریکا شته او نه یې هم پر دې ولس زړه سوزي او نه هم هغه کسان چې جګړه یې خپل تجارت ګڼلی دی، زیانمن کېږي، بلکې د هرې حادثې قرباني یوازې خوار افغان ولس وي.

بلخوا ولسمشر د سولې ځلور اړخیزې غونډې سره پربکون وکړ، خو د هغې د بدیل لاره یې تر اوسه په روښانه توګه نه ده پر ګوته کړې، دا چې ډېرې بېمسؤولیته او یا هم له جګړې نا زیانمن کسان له وسلهوالو مخالفینو سره یوازې پر جګړې کولو تأکید کوي، پرته له دې چې د حکومت نظامي او مادي قوت په نظر کې ونیسي او یا هم له جګړې، چاودونو او نا امنیو څخه د هېواد او هېوادوالو زیانونو ته پام وکړي، نو دا له عقل څخه ډېره لرې خبره ده چې د هېواد روان ناورین دې د جګړې له لارې حل کړای شي او که داسې کیدلای شول، نو په تېرو ۱۵ کلونو کې چې د نړیوالې ټولنې بې شمېره عسکر او مرستې دلته ښکته پورته کېدلې، دا جګړه به ختمه شوې او سوله به راغلې وه، بلکې هغه وخت نه تر اوسه ورځ تر بلې د جګړې لمنه پراخه شوې ده او د وژونو لړۍ ګرمه شوې ده، او هره ورځ په لسګونو افغانان په دې ناآمنیو کې خپل ژوند له لاسه ورکوي او بېشمېره کورنۍ د غم پر ټغر کېنول کېږي.

په تېرو ۱۵ کلونو کې که د قیقې شمېرې تر لاسه شي نو په زرګونو او تر لکونو افغانان وژل شوي دي، پر دې برسیره د هېواد اقتصاد د نورو پر مرستو ولاړ دی، لوړې، فقر، بېکارۍ، بېسوادۍ لمن ورځ تر ورځ پراخېږي او په اکثره لرې پرتو ولایتونو او نړدې سیمو کې خو اصلن د ژوندانه هېڅ شرایط هم برابر نه دي او لا تر اوسه هم سره له دې چې لکونو افغانان له هېواده بهر دی، لا هم د روانو حالاتو په وجه هره ورځ نور افغانان هم له هېواد څخه کډه کېږي.

په دې کې شک نه شته چې سوله هم یوازې په خبرو نه راځي او نه هم د سولې پروسه کامیابول آسانه کار دی، په داسې حال کې چې د افغانستان په روانه جګړه کې له خپلو پردي ډېر دي او اکثره د پربکړو واک هم د افغانانو پرځای له ګاونډیانو او بهرنیو استخباراتي کړیو سره دی، خو سره له دې هم که د سولې لپاره قوي اراده شتون ولري او افغانان په خپله سوله وغواړي، نو تر ډېره به د جګړې لمنه له دې هېواده ټوله شي او لږ تر لږه به یې د لا خوریدو مخنیوی وشي.

هغه ډلې چې اوس په عملي ډګر کې له دولت سره سوله کوي او د دې کار لپاره بې له کوم شرط څخه آماده دي، باید هغوی سره د حل په موخه جدي خبرې وشي او ژر تر ژره یوه مثبتې نتیجې ته ورسېږي او دا چې د سولې په نامه یوازې هیئتونو ښکته پورته کېږي او یا هم له هغوی څخه د تسلیمۍ غوښتنه کېږي، دا کار به په هېڅ ډول د سولې لپاره لاره هواره نه کړي، بلکې هغه کړۍ چې د لته د سولې مخالفې دي، نورې هم قوي شي.

نو تر هرڅه وړاندې حکومت ته په کار دي چې د سولې په اړه جدي او د افغانانو د خوښې تصمیم ونیسي او په دې کار کې د نورو فرمایشونو ته توجه ونه کړي، بلخوا د دولت مخالفین هم باید په دې وپوهېږي چې جګړه د هېڅ افغان په ګټه هم نه ده، ګټه یې یوازې بهرنیان وړي او زیانونه یې افغانانو ته اوړي، نو باید د سولې په نامه د فرصت تر لاسه کولو پروسه نوره پای ته ورسول شي او باید ټول په دې وپوهېږي چې که په همدې حساسه موقع کې د سولې لپاره جدي هڅې ونه شي او دا پروسه بریالۍ نه شي، نو دا کار به د ټولو په زیان وي او الله مه کړه افغانستان به بیا پر داسې ناورین واړوي چې راتلونکي څو نسلونه به یې هم د رغېدو وس ونه لري.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشي

اعضاء هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
عبدالفتاح جواد
محمد اکبر مؤحد
وحید الله مصلح
عزیز احمد حنیف

شماره مسئول توزیع: 0744157052

همکاری نقدی تان را به ما بفرستید

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

افغانان له بېکارۍ کړېږي خو وزارتونه او ادارې خپله پراختيايي بودیجه نه شي لګولای!

اصلاح رسنیز ګروپ / نعمت ا لله عزیزي

سره له دې چې افغانان د بېکارۍ او ګڼو اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دي او ځوانان يې د ګاونډیو هېوادونو تر څنګ اروپايي هېوادونو ته په سختو لارو تلو ته زړه ښه کوي، خو بل لورته د دې هېواد وزارتونه او ادارې نشي کولای خپلې پراختيايي بودیجې ولګوي تر څو خلکو ته د کار زمینه برابره او اقتصادي ستونزې يې راکمې شي.

په افغانستان کې مالي کال د جدي يا مرغومي مياشتي څخه پيل کېږي چې اوس يې څلور مياشتي تېرېږي، خو چارواکي وايي چې وزارتونو يوازې ۷ سلنه پراختيايي بودیجه لګولې ده هغه څه چې ځېنې کارپوهان دا رقم يوازې له ۲ تر ۳ سلنه بولي. او نيوکه کوي چې د ملي يووالي حکومت مشران پر مالیې وزارت بې باوره دي او د پروژو قراردادونه او د تدارک چارې خپله ولسمشر په لاس کې اخيستې دي چې د پرمختيايي پروژو د تطبيق په چارو کې يې خنډونه را پورته کړي او دا چاره په سستۍ سره پر مخ ځي.

د دې هېواد بودیجه چې ډېره برخه يې پر نړيوالو مرستو ولاړه ده او ډېر کله يې نه لګونه او مصرف د نړيوالو مرسته کوونکو له جنجال سره مخ وي، خو په هېواد کې له څو کلونو راهېسې حکومت په دې نه دی توانيدلای چې خپله بودیجه په بشپړه توګه ولګوي. د مالیې وزارت د شمېرو له مخې په تېر ۱۳۹۴ لمريز کال کې يوازې ٦٥ سلنه بودیجه لګول شوې او په ۱۳۹۳ لمريز کال کې بيا دا شمېره ۴٦ سلنه ښودل شوې ده.

د افغانستان د نوي مالي کال عادي او پراختيايي بودیجه ٦٩٠،٦٦١ ميليارده افغانۍ ده چې له ۹،۵۵۰ ميلياردو ډالرو سره برابرېږي، ددغو پيسو ۴۴۴،٦٠٦ ميلياړده افغانۍ يې عادي بودیجه او ۲۴٦،۰۵۳ ميلياړده يې پراختيايي بودیجه ده چې د عادي بودیجې د يوې برخې تر څنګ پراختيايي بودیجه په بشپړه توګه له بهرنيو مرستو څخه جوړه شوې وه.

دا چې ولې هر کال وزارتونه او ادارې نه توانېږي خپله پراختيايي بودیجه ولګوي، همدارنګه آيا د پروژو په قراردادونو کې د روڼوالي لپاره حتمي ده چې خپله ولسمشر دې د پروژو قراردادونه تر نظر لاندې ولري او که بله لار هم شتون لري؟ آيا د بودیجې په لګونه کې سستوالی به د دې لامل شي چې نړيوالې مرستې له خنډ او ځنډ سره مخ شي؟ دا او ځينې نورې مهمې پوښتنې مو له اقتصادي کارپوهانو او مسؤولينو سره شريکې کړې دي چې لنډيز يې تاسو ته وړاندې کوو.

د پراختيايي بودیجې نه مصرفيدل او لاملونه يې!

د ملي يووالي حکومت له اقتصادي ستونزو سره لاس او ګریوان دی او هڅه کوي چې د وارسا او بروکسل غونډو ته چې څو مياشتي وروسته تر سره کېږي ډک لاس لاړ شي او د نړيوالو مرسته کوونکو پاملرنه جلب کړي، خو ويل کېږي چې د کابينې وزارتونو د مالي کال په لومړۍ ربعه کې يوازې ۷ سلنه پراختيايي بودیجه لګولې ده او آن چې ځينې کارپوهان دا رقم دوه يا درې سلنه ګڼي، دا چې هېواد په ګڼو برخو کې رغونې او کار ته اړتيا لري، څه لاملونه د دې باعث شوي چې وزارتونه خپلې پراختيايي بودیجې په سمه توګه ونه شي کارولای؟

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد سيف الدين سيحون د دې پوښتنې په ځواب کې وايي: "د پروژو د قراردادونو او

تدارک چاړې ډېرې پیچلې او وخت نیونکې دي. په پارلمان کې د بودیجې له تصویب څخه را نیولې بیا تر تدارکي چارو پورې ډېر وخت نیسي."

د نوموړي کارپوه په اند تر ټولو مهم لاملونه دا دي چې په وزارتونو او ادارو کې لومړیتوبونه په نظر کې نه نیول کېږي، تقرر د تخصص او وړتیا پر اساس نه، بلکې د ټیم او ببلابېلو تړاونو پر اساس ترسره کېږي، ظرفیتونه او وړتیاوې ډېرې ټېټې دي، هېواد ته ژمنتیا شتون نه لري او د مشخص پروګرام له لارې د پروژو پر تطبیق څار نه‌شته او مسؤولین چې څه ډول وغواړي خپل کارونه ترسره کوي.

د پکتیا پوهنتون استاد او د اقتصادي چارو کارپوه محمد یونس ابراهیمي، سره له دې چې د پراختیایي بودیجې نه مصرفیدل د هېواد په زیان بولي او زیاتوي چې په هېواد کې ګڼو برخو کې کارونو ته اړتیا شتون لري.

خو نوموړی یې هم لاملونه د ملي یووالي حکومت د کابینې نه بشپړیدل، په ادارو کې د لازمو وړتیاوو نه شتون، په وزارتونو او ادارو کې لومړیتوبونه په نظر کې نه نیول او د کارونو لپاره د لازم پروګرام نه شتون د بودیجې د کم لګونې عمده لاملونه ګڼي.

د پروژو قراردادونه خپله ولسمشر تنظیموي!

ویل کېږي چې د ملي یووالي حکومت په جوړیدو سره ولسمشر د پروژو قراردادونه او د تدارک چارې د رونړوالي په موخه خپل لاس کې اخیستې دي چې تر ډېره د پروژو د کارونو د ژر نه ترسره کېدو لامل هم بلل کېږي، دا چې دا کار څه ګټې او زیانونه لري؟

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد سیف الدین سیحون یې په هکله وایي: "ولسمشر محمد اشرف غني دا کار د خلکو د اغفال او فریب لپاره کوي او یو ډول تبلیغ دی چې ګواکې د پروژو په قراردادونو کې رونړوالی رامنځته شي او له یو فلتر نه تېر شي."

د دې اقتصادي کارپوه په باور لومړی خو ولسمشر غني دومره توان او وخت نه لري چې د پروژو ټول قراردادونه دې و څېړي، له بلې خوا د ښاغلي سیحون په اند کله چې د تدارک چارې ارګ ته لاړې شي د ډېرو فسادونو او رشوتونو لارې هوارېږي او قراردادونه د یو ګروپ په لاس کې غورځي.

د کابل پوهنتون د دې استاد په نظر دا په دې معنې ده چې په حکومت کې د بې باورۍ سترې فضا حاکمه ده، او کله چې دومره بې باورۍ شتون ولري او ولسمشر وغواړي د بورۍ خوله کلکه کړي، له لاندې برخې یې هر څه تالا کېږي او کله چې وزارتونه د پروژو د تطبیق صلاحیت ونه لري، بودیجه یې هم لاس په لاس کېږي.

د نوموړي په اند باید با اعتباره ارګان را منځته شي تر څو حساب ورکوونکي وي او قانون حاکم شي، نه دا چې اشخاص په هر ډول چې غواړي حاکمیت ولري. د هغه په باور په اوسني وخت کې چې کوم فساد را منځته شوی دی د هېواد په تاریخ کې بې مخینې دی.

د پکتیا پوهنتون او سلام خصوصي پوهنتون استاد محمد یونس ابراهیمي وایي: تعجب دې ته کوم چې د ولسمشر د متخصص والي خبرې ډېرې کېدلې او تمه دا وه چې کار به اهل کار ته وسپارې تر څو ډېر کارونه د یو شخص په لاس کې نه وي چې دا د مدیریت ډېر بد ډول دی، خو اوس لېدل کېږي چې خپله همدا کار کوي.

د سېمه ایزو او ستراتېژیکو څېړنو مرکز د علمي شورا دا غړی باور لري کله چې ډېر کارونه د یو شخص یا یوې ادارې په لاس

کې را ټولېږي په دې معنې ده چې ټول له ناکامۍ سره مخ کېږي.

نوموړی نیوکه کوي چې په ادارو کې د تقرر په برخه کې کار اهل کار ته نه سپارل کېږي او هر هغه څوک چې په یو ټیم او ګروپ پورې تړل شوي وي هغوی ته لومړیتوب ورکول کېږي. په داسې حال کې چې باید متخصصو او ژمنو خلکو ته پاملرنه وشي.

بهرنۍ مرستې له ځنډ او د قطع کېدو له خطر سره مخ دي!

داسې اټکلونه کېږي چې که چېرې د ملي یووالي حکومت د بودیجې په سمه لګونه باندې تمرکز زیات نه کړي، د دې خطر شتون لري چې بهرنیان حتي خپلې ژمنه شوې مرستې هم و ځنډوي او یا یې هم د نه ورکړې پریکړه وکړي، رښتیا هم دا خطر تر کومه جدي دی؟

د کابل پوهنتون استاد او اقتصادي کارپوه سیف الدین سیحون وایي: دلته د مرسته ورکوونکو او مرسته اخیستونکو تر منځ اړیکې شتون لري او نوموړی د نړیوالې ټولنې کارونو او له فساد سره د مبارزې غوښتنه له چل او فریب نه ډکه ګڼي.

د هغه په باور لکه څنګه چې پخواني شوروي اتحاد د خپلو ګټو لپاره په ځینو ارګانونو کې خپل خلک ګمارل او ورسره یې مرسته کوله، همغه شان اوس امریکا دا کار کوي. د کابل پوهنتون نوموړی استاد زیاتوي: د دیموکراسۍ، مدني ټولنې او نورې ژمنې او خبرې ټولې دروغ دي او یوازې امریکا او نور هېوادونه د خپلو ګټو د تعقیب او دلته د پاتې کېدو لپاره مرستې کوي او په باور یې دا مرستې به هیڅکله قطع نه شي.

د اقتصادي چارو کارپوه او د پکتیا پوهنتون او د سلام خصوصي پوهنتون استاد محمدیونس ابراهیمي ټېنګار کوي چې باید دا ظرفیت او وړتیا رامنځته شي چې هېواد له دې بحران څخه وویستل شي چې همیشه دې د نورو پر مرستو ولاړ وي. نوموړی مني چې اوس مهال کې هېواد ته بهرنۍ مرستې اړینې دي، خو په باور یې باید داسې اساسي کارونه او سیستم رامنځته شي چې هېواد پر خپلو پښو ودریږي.

د نوموړي کارپوه په اند په روان وضعیت کې چې کله روښوالی شتون ونه لري بهرنیان خپلې مرستې شاید وځنډوي.

د ابراهیمي په نظر بهرنیان چې کله مرسته کوي خپل شرطونه هم لري او مرستې یې په داسې څه باندې نه لګول کېږي چې د هېواد راتلونکې ته پکې کومه ځانګړې ګټه وي او لومړیتوبونه په نظر کې نه نیول کېږي.

په قراردادونو کې د روښوالي او چټکتیا لپاره څه کېدای شي؟

باورونه دا دي چې وروسته له هغه چې ولسمشر غني د پروژو قرار دادونه او د تدارک چارې په لاس کې اخیستې دي، په دې قرار دادونو کې د روښوالي او شفافیت موضوع ته پام شوي دي او تر ډېره د فساد مخه نیول شوې ده، خو له بلې خوا نیوکه دا ده چې دا چارې ډېر ټېکنۍ شوې دي او په کارونو کې یې سستي را منځته کړې ده، څه کېدای شي چې له یوې خوا د روښوالي موضوع ته پام شوي وي او له بل لوري د پروژو قراردادونه هم په چټکتیا سره تر سره شي؟

د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد سیف الدین سیحون وړاندیز کوي چې باید په ادارو او وزارتونو کې هېواد ته ژمن، تقوا لرونکي، او داسې کسان چې د مدیریت وړتیا ولري او ملي ګټو ته پر شخصي ګټو لومړیتوب ورکړي وګمارل شي، تر څو فعاله اداره را منځته کړي چې په دې سره د هېواد ستونزې کمې شي او ټولنه پرمختګ وکړي.

خو نوموړی استاد ټېنګار کوي چې په مصلحتونو ولاړ، د غاصبینو او مجرمینو حکومت هیڅکله نه شي کولای هېواد او ټولنې ته پرمختګ ورکړي.

د اقتصادي چارو بل کارپوه او د سېمه ایزو او ستراتېژیکو څېړنو مرکز د علمي شورا غړی محمد یونس ابراهیمي سره له دې چې ټېنګار کوي چې باید پروژې عملي شي او روښوالي هم پکې مراعات شي، خو په باور یې د دې حل لاره دا نه ده چې ټول کارونه دې د ولسمشر په لاس کې وي.

د ښاغلي ابراهیمي په نظر حل لاره دا ده چې ژمن او متخصص خلک د دې کار لپاره وګمارل شي او په باور یې داسې هم نه ده چې په هېواد کې قحط الرجال دی چې هیڅ متخصص خلک پکې شتون نه لري، بلکې د هغه په اند ډېر داسې متخصص او هېواد ته ژمن خلک شتون لري چې باید په دې برخه کې په کار وګمارل شي.

هڅه مو وکړه د یادې موضوع په هکله د مالیې وزارت نظر هم واخلو خو له پرلپسې هڅو سره سره د دې وزارت ویاند او د بودیجې رئیس او یا هم کوم بل مسؤول خبرو کولو ته حاضر نه شول.

حکومت وحدت ملی؛
از نخستین الی آخرین سفر جان کری

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

جان کری وزیر خارجهٔ امریکا روز شنبه ۲۱ حمل زمانی در یک سفر از قبل اعلام ناشده وارد کابل شد که بگومگوها میان سران حکومت وحدت ملی در مورد توافقنامهٔ دوسالهٔ حکومت وحدت ملی بالا گرفته بود. این توافقنامهٔ سیاسی، در ماه سپتمبر امسال پایان می‌یابد و بسیاری مواد آن هنوز عملی نشده‌اند. از یک‌سو تاکنون پست ریاست اجرائیه در قانون اساسی افغانستان ایجاد نشده و از سوی دیگر اصلاحاتی که سران حکومت وحدت ملی روی آن توافق نموده بودند، اجرا نشده است. این مساله نگرانی‌هایی را در کابل دامن زده و مخالفت‌هایی را در درون حکومت به میان آورده بود. در کنار این، فشارها از بیرون حکومت نیز افزایش یافته بود.

ظاهراً سفر جان کری برای حمایت از حکومت افغانستان و نیروهای امنیتی افغان صورت گرفت؛ ولی او در این سفر خود به حل و فصل اختلافات سران حکومت وحدت ملی پرداخته و طی کنفرانس مطبوعاتی در کابل گفت که حکومت وحدت ملی تاریخ انقضاء ندارد و بر اساس توافقنامهٔ که وی آنرا زمینه‌سازی نموده بود، این حکومت پنج سال اعتبار دارد.

هرچند این سفر جان کری اختلافات داخلی حکومت را کاهش داد، ولی انتقادهای شدیدی را نیز در پی داشت. حامد کرزی رئیس جمهور پیشین، اپوزیسیون سیاسی حکومت و شماری از اعضای پارلمان اظهارات جان کری را خلاف حاکمیت ملی افغانستان عنوان نمودند.

ایجاد حکومت وحدت ملی

در پنج اپریل ۲۰۱۴ دور اول انتخابات ریاست جمهوری در افغانستان برگزار گردید که در آن هیچ یک از نامزدان نتوانستند آرای لازم برای برنده‌شدن در انتخابات را کسب نماید. پس از دور دوم انتخابات باوجود تنش‌ها در مورد تقلب گسترده در انتخابات، اشرف غنی آرای لازم برای برنده‌شدن در انتخابات را کسب نمود، ولی رقیب انتخاباتی وی داکتر عبدالله عبدالله نتائج انتخابات را نپذیرفت و به مخالفت پرداخت. مخالفت تیم انتخاباتی وی کشور را با یک بحران سیاسی روبه‌رو نمود.

بالآخره در سپتمبر ۲۰۱۴ جان کری وزیر خارجهٔ امریکا به افغانستان آمد و طی توافقنامهٔ سیاسی که به میانجیگری وی میان اشرف غنی و داکتر عبدالله به امضاء رسید، اشرف غنی به حیث رئیس جمهور و داکتر عبدالله به حیث رییس اجرائیه اعلام گردیدند و بر تقسیم ۵۰-۵۰ قدرت توافق نمودند. به این ترتیب حکومت وحدت ملی ایجاد گردیده و جنجال‌های انتخاباتی را خاتمه بخشید.

ضعف‌ها

- **اختلافات داخلی:** حکومت وحدت ملی از دو تیمی تشکیل گردید که اختلافات زیادی میان آن‌ها وجود داشت. این اختلافات روی تشکیل حکومت نیز تاثیر گذاشت و باعث گردید تا شماری از ادارات کلیدی حکومت به شمول وزارت‌خانه‌ها و ولایات، توسط سرپرست‌ها اداره گردند.
- **عدم هماهنگی:** این حکومت از همان آغاز در برخی از بخش‌ها چون مبارزه با فساد اداری، سیاست خارجی، قضیهٔ مهاجرین و غیره، فاقد هماهنگی در راه‌کارها بود.
- **ناکامی تلاش‌های صلح:** تلاش‌های حکومت وحدت ملی برای آوردن صلح به کشور تاهنوز نتیجهٔ مطلوبی نداشته و مخالفین مسلح حکومت نیز از اشتراک در گفتگوهای چهارجانبهٔ افغانستان، پاکستان، چین و امریکا انکار نمودند.
- **ناکام ماندن در تامین امنیت:** ضعف دیگر حکومت وحدت ملی در یک‌ونیم سال گذشته، ناکام ماندن در تامین امنیت بود چنانچه اکنون در بسیاری از مناطق کشور جنگ شدیدی نسبت به ۱۴ سال گذشته جریان دارد و در سال گذشته یکی از شهرهای مهم کشور و شمار زیادی از ولسوالی‌ها نیز به دست طالبان سقوط کرد.
- **وضعیت خراب اقتصادی:** در طول یک‌ونیم سال گذشته گام‌هایی که در نتیجهٔ آن اعتماد اقتصادی به میان آید، برداشته نشد. همین دلیل

بود که سرمایه‌ها از کشور فرار نموده و بی‌کاری و وضعیت خراب اقتصادی صدها هزار جوان افغان را راهی کشورهای اروپایی کرد.

- **ناکامی در برآورده کردن تعهدات:** بر اساس آمار یک ارگان خصوصی، حکومت وحدت ملی تا حال ۷٪ از تعهداتی را که به مردم سپرده بود عملی نموده، ۳۱٪ آن در جریان است و روی ۶۰٪ از وعده‌هایش هنوز کار را آغاز ننموده. ۲٪ وعده‌هایی را که به مردم سپرده بود، با وجود سپری شدن وقت تعیین شده برای تحقق این وعده‌ها، عملی نکرده است.

دست‌آوردها

دست‌آوردهایی که حکومت وحدت ملی تاکنون داشته، می‌توان به صورت ذیل دسته‌بندی نمود:

- **گذر از مرحله بحرانی در کشور:** پس از جنجالی شدن انتخابات ریاست جمهوری، وضعیت کشور به سوی بحرانی شدن در حرکت بود. توافق سیاسی نامزدان وضعیت کشور را از یک بحران احتمالی نجات داد و هر دو تیم تاحدی کنار هم آمدند. این توافق به عنوان نخستین دست‌آورد برای این حکومت تلقی شد. از سوی دیگر، قبل از سال ۲۰۱۴، نگرانی‌ها و تبلیغات منفی در مورد وضعیت کشور بعد از سال ۲۰۱۴ بیشتر بود. حکومت وحدت ملی نیز در این سال تشکیل گردید و مسؤولیت اوضاع را در کشور به عهده گرفت که برخلاف پیشبینی‌ها تا هنوز به حیات خویش ادامه داده است.
- **پروژه‌های اقتصادی درازمدت:** حکومت وحدت ملی توانست تا دو پروژهٔ بزرگ اقتصادی را جامهٔ عمل بپوشاند و کار عملی پروژهٔ انتقال گاز «تاپی» و «کاسا-۱۰۰۰» آغاز گردد.
- **جلب توجه کشورهای منطقه در مسائل افغانستان:** کشورهای آسیای مرکزی و چین پس از ایجاد حکومت وحدت ملی در مسائل افغانستان نقش فعالی ایفاء نمودند. به گونهٔ مثال، حضور فعال چین در پروسهٔ گفتگوهای صلح افغانستان با طالبان و یا هم نقش فعال کشورهای آسیای مرکزی در پروژه‌های اقتصادی در افغانستان.
- **دست‌آوردها در مبارزه با فساد اداری:** هرچند راه‌کار حکومت وحدت ملی در مبارزه با فساد تا حد زیادی هماهنگ نبود، ولی با آن هم این حکومت در مبارزه با فساد اداری نیز دست‌آوردهای اندکی داشت. به گونهٔ مثال، از طریق کمیسیون تدارکات ملی پول‌هایی را به دست آورد. همچنان برخی از قرضه‌های کابلبانک را نیز به دست آورد.
- **مهاجرین:** نخستین پلان استراتیژیک مهاجرین تهیه گردید و با حکومت‌های پاکستان و ایران توافق صورت گرفت تا مهاجرین ناراجستر را راجستر نمایند.
- **سیاست خارجی:** روابط خراب با ایالات متحدهٔ امریکا نسبت به دورهٔ قبلی بهتر گردید. همچنان با شمار از کشورهای منطقه چون پاکستان، چین و عربستان سعودی نیز روابط کشور نسبت به گذشته در وضعیت بهتری قرار گرفت.

چالش‌های فراراه حکومت

گرچند حکومت وحدت ملی با چالش‌های زیادی مواجه است، ولی مهم‌ترین آنها را می‌توان چنین برشمرد:

- **مشروعیت:** حکومت وحدت ملی نه بر اساس قانون اساسی افغانستان، بلکه بر اساس توافقنامهٔ سیاسی بین دو رقیب انتخاباتی به وجود آمده است و به باور بسیاری از آگاهان حقوقی، خلاف قانون اساسی می‌باشد. از همین‌رو، عدم مشروعیت بزرگترین چالش فراراه حکومت پنداشته می‌شود که این حکومت را با مشکلات زیادی مواجه نموده است. باآنکه این حکومت می‌توانست با نشان دادن کارایی‌اش در عرصهٔ عمل، خلای ناشی از عدم مشروعیت را پر کند، اما در میدان عمل نیز با مشکلات زیادی روبه‌رو شد.
- **اختلافات داخلی:** بر اساس توافق سیاسی که در هنگام تشکیل حکومت وحدت ملی میان اشرف غنی و داکتر عبدالله به امضاء رسیده بود، این حکومت باید زمینهٔ برگزاری لویه جرگه را فراهم نموده و پست صدراعظم را در قانون اساسی افغانستان ایجاد می‌نمود، ولی ناکامی در این کار به اختلافات داخلی حکومت افزوده است.
- **فساد اداری:** بر اساس گزارش سال ۲۰۱۵ سازمان شفافیت بین‌المللی (TI)، افغانستان دومین کشور فاسد جهان شناخته شد و این نشانگر آن است که هنوز هم فساد اداری در افغانستان به عنوان یکی از چالش‌های جدی در برابر حکومت مطرح است و حکومت راه پرمشکلاتی در راستای مبارزه با فساد را در پیشرو دارد.
- **مشکلات امنیتی و اقتصادی:** وضعیت امنیتی با گذشت هر روز خراب‌تر می‌گردد و این وضعیت بر اقتصاد کشور نیز سایه افگنده و باعث فرار سرمایه‌ها از کشور می‌گردد و به این ترتیب بی‌کاری نیز در کشور افزایش می‌یابد.

آیندهٔ حکومت وحدت ملی

مهم‌ترین توافق موافقتنامهٔ سیاسی حکومت وحدت ملی برگزاری لویه جرگه بود تا با تعدیل قانون اساسی افغانستان پست صدراعظم را ایجاد نمایند، پیش لازمهٔ لویه جرگه، برگزاری انتخابات شورای‌های ولسوالی‌ها بود که تاهنوز ممکن به نظر نمی‌رسد. اصلاحات در نظام انتخاباتی نیز بخش مهم این موافقتنامهٔ سیاسی بود، ولی تا هنوز حکومت وحدت ملی موفق به این کار نیز نشده است.

در کل اختلافات داخلی حکومت و قضیهٔ مشروعیت نظام، این حکومت را با تهدید سقوط مواجه کرده بود که سفر جان کری، این مشکل را تا حدی حل نمود و ظاهراً چنان می‌نماید که این حکومت باوجود مشکلات کنونی و به شکل فعلی، به کار خود ادامه خواهد داد.

غرونه غرونه خوب په ځاځکي اوبو تښتي

ليکوال: رحيم الله حريفال

عبدالرحمن بابا وايي:

غـرونـه غـرونـه خـوب پـه ځـاځـکـي اوبـوتښـتـي
يـــار زمـــا په ســـيند د اوښکو بېدار نه شـــو

مونږهم د ډېرو خواخوږو ، عالمانو او پوهانو په غرونو غرونو سيند اوښکو له درانه خوبه راويښ نه شولو، په خپل وخت کې هر يوه له راپېښو او راتلوونکو خطرونو څخه خبر کړلو، خو د ډېرو غږونه د صـحرا د چيغې او آواز په څېر شـول او د دغو غږونو کوونکي ناهيلي او ډک زړونه سره زمونږ له منځه تللي دي.

او کله خو داسې هم شوي دي چې د وخت د بېدارګرو آوازونو ته غوږ ايښـودل خو څه کوې تر دې چې د وخت حاکمانو او واکمنو لـه خپلې خاورې او هېواد نه شـړلي دي چې بيلګه يې د عصرـ بېدارګر سيد جمال الدين افغان دی .

هو! مونږ هغه ملت يوو چې پېړۍ پېړۍ وروسته د خپلو نوميالیو په ارزښت پوهېږو.

زمونږ دردېدلې خاوره اوس هم په دې رنځ اخته ده، تر اوسه هم مونږ خپـل مشرـان نه پېژنو لا اوس هم مونږ خپل خواخوږي په يوه او بـل نامه رټلي دي او لا هم مونږ د خپلو خدمتګارانو پرځای په خپلو بادارانو پسې روان يوو.

اروابنـاد اسـتـاذ ګـل پـاچا الفت په يوه خواږه او ژور نثر کې د خـدمتګـار تر سرليـک لانـدې زمونږ دا تشـه او نيمګړتيا راته په ګوته کوي .

خدمتګار

(هلته يو ړوند بې لارې روان ؤ، هغه پر سـمه لاره برابر کړ، مگر ړونـد پوه نه شـو چې زما رهبر څوک دی . يو بل په خواږه خوب ويـده ؤ، پـه خوا کې يې يوه منګري سر را اوچت کړ هغه په ببړه وواژه او ويده هماغسې ناخبره پاتې شو .

د شـپې په مسـجد کې ناروغه مسـافر زګيروي کول، هغه يې په خدمت کې شـپه سـبا کړه، مسافر سباوون خواته مړ شو او خپل زړه سـواندی خدمتګار يې و نه پېژانده، هغه په لاره روان ؤ، يوه مـاشـــوم ته يې يو موټی مېوه ورکړه، مګر يوه هم و نه پېژانده ، چې دی څوک دی؟!.

له دې لويې لارې نه هغه ډېر اغزي او کانې لرې کړه، مګر څوک چې سـبا ته پر دې لاره راځي د هغه له خدمت څخه نه خبرېږي او هغه نه پېژني

په رښتيا ، چې مونږ خپل خدمتګاران نه پېژنو او باداران ډېر ښه پېژنو!)

هو! د رښـتينو مشرـانو او خواخوږو دنده همدا ډول وي، چې ډېر د نـامه او شـــهرت تږي نه وي، يواځې او يواځې د خپلو خلکو د سلامتی غم ورسره وي، د خدمت له پاره نه ورځ پېژني او نه هم شپه او د ژوند تر وروستی سلګی يې د خپلو خلکو خدمت ته ملا تړلې وي .

اما زمونږ دا مسـؤوليت دی چې ترڅو له هر وار مار چېچلو نه په امـان کې پـاتې شـــو اړ يوو چې خپـل خـدمتګـاران او خواخوږي وپېژنو پـه ژونـدانه د هغوی قدر وکړو، خبرو ته يې غوږ کېږدو او په مشورو يې عمل وکړو او هغه وخت چې دوی مو په منځ کې نه وي ارمان يې ونه کړو .

اریکی: habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادب

آیا از این مرض مهلک آگاه هستید؟

- قرآن از مخلصانی تعریف و تمجید می‌کند که: «در کار خود جزء رضایت خدا هدف دیگری ندارند و دنبال رضایت او هستند و به دنبال رضایت و ستایش مردم نیستند». [سوره انسان].

- از ابن مسعود و ابن عباس و براء رضی الله عنهم به صورت مرفوع روایت شده است: «محکم‌ترین ریسمان ایمان عبارتند از: تعهد نسبت به یکدیگر به خاطر خدا، دوستی برای خدا، و خشم به خاطر خدا».

- در حدیث ثوبان، از حضرت پیامبر صلی الله علیه وسلم می‌فرمایند: «در میان امت من افرادی وجود دارند که اگر نزد یکی از شما بیایند و درخواست یک دینار کنند به آنها نمی‌دهید، اگر یک فلس درخواست کنند به آنها نمی‌دهید، اما اگر از خداوند بهشت را درخواست کنند به آنها می‌دهد!».

- حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه در نامه خود به ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمودند: «آنکه نیت خود را برای خدا اصلاح گرداند، خداوند میان او و مردم را اصلاح می‌کند».

- معروف کرخی خود را می‌زد و می‌گفت: «ای نفس! مخلص باش تا خلاصی یابی».

- ابی بن کعب رضی الله عنه از حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم روایت می‌کند: «این امت را به روشنائی و مقام بلند و استقرار در زمین نوید دهید، اما اگر کسی از آنها کار آخرت را برای دنیا انجام دهد در آخرت سهمی از پاداش ندارد».

- معاذ بن جبل رضی الله عنه هم از حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم روایت کرده است: «هر بندهای که در دنیا بر مقام شهرت و ریا تکیه زند، خداوند در روز قیامت در حضور خلایق او را رسوا می‌کند».

- زید بن اسلم رضی الله عنه از پدر خود نقل کرده است: حضرت عمر رضی الله عنه بسوی مسجد به راه افتاد. معاذ بن جبل را بر مزار حضرت پیامبر مبارك صلی الله علیه وسلم دید که گریه می‌کند. فرمود: چرا گریه می‌کنی؟ فرمود به خاطر حدیثی که از حضرت پیامبر مبارك صلی الله علیه وسلم شنیدم و آن اینکه:

«اندکی از ریا شرک است و آنانکه بادوستان و اولیای خدا عداوت می‌کنند براستی که آشکارا با خداوند می‌جنگند، بی‌گمان خداوند پرهیزگارانی را که بخاطر پرهیز از تظاهر و ریاء خود را نهان می‌دارند، دوست دارد. آنانکه فقط خدا را در نظر می‌گیرند، و چنان بی‌سر و صدا هستند که اگر غایب باشند کسی سراغشان را نمی‌گیرد و از حالشان نمی‌پرسد و اگر درمیان مردم حاضر شوند به علت عدم تظاهر شناخته نمی‌شوند، دل‌هایشان چراغ‌های هدایت است و از هر گرد و غبار تاریکی رهائی می‌یابند».

زندگی به من آموخت

زندگی به من آموخت که هر انسان را به جایگاه واقعی اش قرار دهم؛ چون اگر در بزرگداشت او زیاده روی کنم، گمان می برد که همراهش منافقت می کنم و اگر در بیان جایگاهش کوتاهی نمایم، ستمگار خواهم بود.

زندگی به من آموخت که نباید همیشه با نیت نیک و خوش باوری تعامل نمایم؛ بلکه باید همه احتمالات را در نظر داشته باشم

زندگی به من آموخت که به جایگاه و مقام خودم احترام گذاشته و دغدغه هایم را در سینه ام حفظ کنم؛ چون اگر مشکلاتم را به دوستم بگویم، غمگین می شود و اگر دشمنم آگاه گردد، به ضرر من از آن بهره می گیرد.

زندگی به من جنبه های ضعفم را آموخت و دانستم که هر چه به دانشم بیفزایم، جهل و نادانی ام را بیشتر درک می کنم.

آموختم که زندگی ایستگاه های سفر است و پایان زندگی از هم گسیختگی و اشکباری است.

زندگی به من آموخت که برخی دوستان، دشمن می گردند.

زندگی به من آموخت که به خیلی از انسان ها امانت نسپارم.

زندگی به من آموخت که جوانب زندگی را ترسیم نموده و خویشتن را درگوشه آن دفن کنم.

زندگی به من آموخت که گریه وسیله فرار از اندوه ها و واقعیت های تلخ است.

زندگی به من آموخت که کار های خوبی انجام داده و به دریا بیندازم. (ترجمه: عبدالخالق احسان)

سخاوت کن و خسیس نباش!

روزی دو بازرگان به حساب معامله هایشان می رسیدند. در پایان، یکی از آن دو به دیگری گفت: «طبق حسابی که کردیم من یک دینار به تو قرضدار هستم.»

بازرگان دیگر گفت: «اشتباه می کنی! تو یک و نیم دینار به من قرضدار هستی؟»

آن دو بر سر نیم دینار با هم اختلاف پیدا کردند و تا ظهر برای حل آن با هم حرف زدند اما باز هم اختلاف، سر جایش ماند. هر دو بازرگان از دست هم خشمگین شدند و با سر و صدا تا غروب آفتاب با هم درگیر بودند. سرانجام بازرگان اولی خسته شد و گفت: «بسیار خوب! تو درست می گویی! یک روز وقت ما به خاطر نیم دینار به هدر رفت.»

سپس یک و نیم دینار به بازرگان دوم داد. بازرگان دوم پول را گرفت و به سمت خانه اش به راه افتاد. شاگرد بازرگان اولی پشت سر بازرگان دوم دوید و خودش را به او رساند و گفت: «آقا، انعام من چی شد؟»

بازرگان، ده دینار به شاگرد همکارش انعام داد. وقتی شاگرد برگشت، بازرگان اولی به او گفت: «مگر تو دیوانه ای پسر؟! کسی که به خاطر نیم دینار، یک روز وقت خودش و مرا به هدر داد چگونه به تو انعام می دهد؟!»

شاگرد ده دینار انعام بازرگان دومی را به اربابش نشان داد. آن مرد خیلی تعجب کرد و در پی همکارش دوید و وقتی به او رسید با حیرت از او پرسید: «آخر تو که به خاطر نیم دینار این همه بحث و سر و صدا کردی، چگونه به شاگرد من انعام دادی؟!»

بازرگان دومی پاسخ داد: «تعجب نکن دوست من، اگر کسی در وقت معامله نیم دینار زیان کند در واقع به اندازه نیمی از عمرش زیان کرده است چون شرط تجارت و بازرگانی حکم می کند که هیچ مبلغی را نباید نادیده گرفت و همه چیز را باید به حساب آورد، اما اگر کسی در موقع بخشش و کمک به دیگران گرفتار بی انصافی و مال پرستی شود و از کمک کردن خودداری کند نشان داده که پست فطرت و خسیس است. پس من نه می خواهم به اندازه نیمی از عمرم زیان کنم و نه حاضرم پست فطرت و خسیس باشم.»

خدیجه‌گونه باشید

ای زن مسلمان! خدیجه اسوه‌ی شماست، خدیجه را در هر چیز مقتدای خویش قرار دهید تا به سان او به کمال برسید.

منزل خدیجه، منزل رقص و موسیقی نبود، در خانه‌ی او سخن از ایمان و تلاوت و نماز و ذکر بود.

در منزل او به شوهر آرامش می‌رسید و هرگز اعصاب شوهرش را خراب نکرده است.

ای زن! مال تو به سان مادرت خدیجه در خدمت به اسلام و لباس تقوا مصرف شود نه در زیاده روی در خرید پوشاک و وسایل آرایشی و....

ای زن مسلمان! خواستگاری را که دیندار و راست است، بر نامزد بی‌دین و پولدار و صاحب مقام ترجیح بده.

خواهر محترم! به سان خدیجه همراه با حفظ آبرو و پاکدامنی به حسب ضرورت می‌توانی به تجارت بپردازی.

خدیجه استاد عفّت برای زنان بی شوهر و معلم وفاء برای زنان شوهردار و اسوه‌ی صبر برای زنان دعوتگر است.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

معلوماتي

څوک د خپل عمر ضمانت کولای شي؟

سوال: کله چې مور دځوانانو په اړه خبره کوو، نو پیغلې هم یادوو، ځینې پیغلي وینو چې حجاب نه اغوندي کله چې د هغوی څخه پوښتنه وشي نو هغوی وایي مور چې واده وکړو بیا حجاب اغوندو، دېرې محجبې میندې شته، په داسې حال کې چې غیر محجبې نجونې هم شته، دا حالت په دېرو اسلامي هېوادونو کې روان دی، نو څه ډول کولای شو د دینداری په اړه دا غلط فهم او تصور له منځه اوسو؟

ځواب: دکتورقرضاوي:

د خیر او روا ځنډول هېڅ کله هم روا ندي، یوه به وایي چې کله واده وکړم بیا حجاب اغوندم، بله وایي چې کله مقرره شم بیا حجاب اغوندم، بله وایي چې کله حج وکړم نو حجاب اغوندم، څوک د خپل عمر ضمانت کولای شي؟آیا څوک دا ویلای شي چې زه به ترسبا ژوندی وم؟

لکه چې یوشاعر وایي:

تقوی دې زیاته کړه ځکه ته نه پوهېږې،کله چې شپه شي ته به ترسهاره ژوندی وې،څومره جوړ خلک بې علته مړه شول،او څومره ناروغان ترډېره ژوندي ؤ!!.

نو څوک د ژوند ضمانت کولای شي، لازمه ده چې انسان اصلاح، توبې او پرهیزګاری ته هڅه وکړي، هېڅوک نه پوهېږي چې څه وخت ورته اجل رارسېږي، هره ورځ باید د خیر په لور ګرځندي ګامونه واخیستل شي، الله تعالی فرمایي: (فاستبقوا الخیرات) (وسارعوا الی مغفرة من ربکم وجنة) نو بختور هغه دی چې د خیر لورته ګرځندی شي. پخوانیو عالمانو ویلي: ډېر خلک په سوف(نن سبا) کې ژوند کوي، یعنی وایي چې دا کار په راتلونکي کې کوم، په راتلونکي کې به توبه وباسم، حج به کوم، خپل نفس به اصلاح کوم، خو دا راتلونکی به کله راځي؟آیا الله تعالی تا ته وعده درکړې چې ته به پنځوس یا شپیته کاله ژوند کوې؟ نه پوهېږې چې څومره ځوانان مړه شول؟څومره د قلبي سکتې له امله، د ترافیکي پیښو له امله، هره ورځ مړه کېږي؟

د مریض د پوښتنې آداب

۱- پوښتونکي ته پکار دي، چې د لیدلو ټول آداب مراعات کړي لکه: په آرامه دروازه ټکول، خپل نوم ور وښیي، د خپلې ژبې حفاظت وکړي، د خپلو خبرو او سترګو (نظر) سره احتیاط وکړي او داسې نور.

۲- په مناسب او آرام وخت کې باید د مریض پوښتنه وکړي.

۳- مریض ته داسې تحفه ور وړي، چې هغه پرې خوشحالېږي او یا ترېنه ګټه پورته کړي لکه: عطر، کتاب، کومه فیته ، میوه او داسې نور خو دا مو باید په یاد وي چې د ډېر اسراف نه ځان وساتل شي او نه هم داسې څه مریض ته ور وړل شي چې هغه ته فایده نه رسوي او یا هغه یې په لیدلو خفه کېږي.

۴- پکار ده په نرمه لهجه د مریض سره خبرې وکړئ، د هغه د حال پوښتنه وکړئ، د هغه نه ډېرې پوښتنې مه کوئ او ډاډګېرنه ورته ورکوئ.

۵- په خپل نظر باندې باید پام وکړئ، که د مریض د وجود کومه برخه ووینئ او یا هغه په خراب حالت ووینئ هغه ته مه ګورئ او خپل نظر واړوئ.

۶- د مریض سره ډېر وخت مه تېروئ، کېدای شي مریض د کالیو بدلولو او یا هم حمام ته د تللو، ډوډۍ خوړلو یا هم ویده کیدو ته ضرورت ولري او هغه د ده په مخکې د شرم له امله نه کوي.

۷- مریض خوشحاله کول او د مرض اجر او په هغې باندې د صبر کولو ثواب ورته بیان کړئ. د مخکنیو پیغمبرانو کیسې ورته وکړئ او په آخر کې پکار دی چې مریض ته د رحمت دعاء وکړئ او په مأثورو دعاګانویې دم کړئ..

په اخلاص کار چې هېڅکله نه ضایع کېږي!

د ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله علیه افضل الصلاة والسلام د بني اسرائیلو د یوه کس ذکر کاوه چې:هغه د یوه بل کس نه زر دیناره قرض وغوښت هغه ورته وویل: داسې شاهدان راوله چې زه د هغوی په شاهدي اعتبار ولرم. قرض غوښتونکي ورته وویل: چې د الله عزوجل شاهدول کافي دي. قرض ورکونکي ورته بیا وویل: کوم ضامن راکړه. قرض غوښتونکي ورته وویل: الله عزوجل د ضمانت لپاره کافي دی. قرض ورکونکي ورته وویل: تا رښتیا وویل او د یوه ټاکلي وخت لپاره یې هغه ته قرض ورکړ.

قرض اخیستونکی د څه کار لپاره د بحر په لاره په سفر لاړ، کله چې هغه خپل کار سرته ورسوه (حاجت یې پوره شو) نو د کشتۍ په تلاش کې و تر څو بېرته په خپل ټاکلي وخت کې قرض دار ته قرض ورکړي، مګر هغه ته کشتۍ پیدا نه شوه. هغه یو لرګی را واخیست او په هغه کې یې سوری وکړ بیا یې زر دیناره او یو خط چې دده له خوا هغه قرض اخیستونکي ته یې لیکلی و په دغه سوري کې کېښودل هغه سوری یې بند کړ او د بحر خواته راغی او ویې ویل: یا الله ته خبر یې چې ما د فلاني نه زر دیناره قرض غوښتی ول او هغه رانه ضامن غوښتی وه او ما هغه ته ویلي ول، چې زما له لوري زما الله ضامن کافي دی او هغه هم په ته راضي شوی و هغه له ما څخه شاهد غوښتی و ما ورته وویل: زما له لوري زما د الله شاهدي کافي ده او هغه په دې رضا شو. ای الله! ته پوهیږې چې ما ډېر کوشش وکړ چې کومه بار وړونکې کشتۍ پیدا کړم چې د هغه قرض په ټاکلي وخت ور ورسوم، مګر زه په دې کامیاب نه شوم، نو اوس یې زه دا (قرض) تاته سپارم. دغسې هغه سړی هغه لرګی چې په هغه کې پیسې او خط و بحر ته وغورځاو هغه لرګی په اوبو کې و، هغه قرضدار یې بیا هم د دې په لټه کې و چې کشتۍ پیدا کړي او خپل ښار ته لاړ شي. بله خوا هغه کس چې قرض یې ورکړی و د بحر په غاړه په دې انتظار و، چې کېدای شي کومې کشتۍ د ده مال راوړی وي. هغه په همدې انتظار کې و، چې په اوبو کې یې یو لرګی ولید. هغه یې را واخیسته تر څو هغه کور ته یوسي او ویې سوځوي، کله چې یې هغه لرګی مات کړ په هغه کې یې پیسې او خط ولیده.

څه وخت وروسته هغه کس هم راغی چا چې قرض اخیستی و، هغه د زرو دینارو سره هغه کس ته راغی چې د چا نه یې قرض اخیستی ؤ (هغه دا سوچ کاوه چې کېدای شي چې هغه د چا نه قرض اخیستی ؤ هغه ته خپلې پیسې نه وي ور رسیدلي) او ورته یې وویل: قسم په رب! چې ما ډېر کوشش وکړ چې کومه کشتۍ پیدا شي او زه په وخت ستا قرض بېرته تاته وسپارم خو کامیاب نه شوم، مګر نن ایله کامیاب شوم او راغلم. هغه کس ورته وویل: دا راته ووایه چې تا زما په نوم څه را لېږلي وو؟ قرض داره ورته وویل: همدا درته وایم چې زه په دې ونه توانیدم چې کومه کشتۍ مې پیدا کړي وه، مګر نن وتوانیدم او راغلم. قرض ورکونکي ورته وویل: الله عزوجل ستا هغه قرض اداء کړ کوم چې تا زما په نوم په لرګي کې رالېږلی و، قرضدار په خوشحالی سره د خپلو زرو دینارو سره بېرته ستون شو. (بخاري).

د کور خاوند چې له غل څخه منه وکړه!

د یوې تونسي ورځپاڼې په حواله، چې یو تن د ډېرو قرضونو او د خلکو لخوا د پورونو له لامله ډېر تنګ شو، له ورځې یې قصد وکړ، چې فلاني کور ته به غلا ته ورځي او له هغوی څخه به مال پتیوي، تر څو پرې خپله چاره وکړي، سړی چې کله یې غلا نه وه کړې، په وېره وېره د کور پر دېوال واوښت، غلی غلی د کوټې لورې ته ورغی او چې کوټې ته ننوت ګوري چې د کور ټول غړي ډېر کلک ویده او هېڅ ډول غږ یې نه پورته کېږي چې فکر یې و کړ نو د کوټې هوا بنده شوې او ټول ګاز نیولي دی او نردې ده، چې مړه شي، غل زر لاس په کار شو او د کور ټول غړي یې له کوټې و ایستل او امبولانس ته یې زنګ ووواهه، کله، چې د کور غړي په شفاخانه کې په هوش راغلل نو حیران شول، چې څنګه دلته راوړل شوي دي؟ غله ورته ټوله کیسه وکړه او د کور خاوند هم د هغه ټول پورونه اداء کړل او منه یې تري وکړه.

کله، چې د الله تعالی اراده بل ډول وي نو بیا هغه ته ګران شخص هېڅکله په بدو کارونو کې نه ښکېلوي او هغه د بدې فرصت هم ورته په نېکې بدلوي، الله تعالی دې مونږ ټول د هغه رښتینې دوستان کړی.

د اسلامي همکاری سازمان او افغانستان

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

د ترکیې په استانبول ښار کې د اسلامي همکاری سازمان ۱۳مه غونډه وشوه، چې د دغه سازمان تر ۳۰ د زیاتو غړو هېوادونو مشرانو پکې ګډون کړی و او له افغانستانه هم اجرائیه رییس ډاکتر عبدالله او د بهرنیو چارو وزیر صلاح الدین رباني برخه اخیستې وه.

به عمومي ډول په دغه غونډه کې د ترهګرۍ، کډوالو، فلسطین، سوریې، اسلاموفوبیا او د مسلمانو هېوادونو ترمنځ پر همکاری خبرې اترې وشوې.

دا چې د اسلامي همکاری سازمان شالید څه دی، دوی په خپلو موخو کې تراوسه ولې ناکام شوي، له افغانستان سره یې اړیکې څرنګه دي او راتلونکی به یې څه ډول وي؟ په دغه تحلیل کې پرې شننه کوو.

د اسلامي همکاری سازمان (OIC) شالید

په شلمه پېړۍ کې د اسلامي ویښتابه هغه بڅرکي چې د افغاني سید د هلو ځلو له کبله بل شوي وو، په شلمه پېړۍ کې یې په مسلمانانو کې تاوده غبرګونونه راوپارول. له همدې ځایه وه، چې په شلمه پېړۍ کې که له یوې خوا د اسلامي ویښتابه په اړه تحریکونه، مفکرین، یو شمېر نخبه‌ګان وزېرېدل او انقلابونه رامنځته شول، نو په بل اړخ کې د مسلمانانو د یووالي په اړه هم غږونه پورته شول.

د مسلمانانو د همدغه یو کولو په اړه، په سره جګړه کې، چې کله اسراییل وزېرېد او د عربو-اسراییلو جګړو له کبله د مسلمانانو سپېڅلې خاوره اسرایلي منګولو ته ولویده او په پای کې د ۱۹۶۹ کال د اګست په ۲۱مه د الاقصی جومات د یو څو تنو اسراییلي یهودو له‌خوا وسوځول شو، نو د دغې پېښې په غبرګون کې د اسلامي نړۍ یو شمېر کسان په تېره بیا د الفیصل د هلو ځلو له کبله دا سازمان د همدغه کال د سپټمبر په ۲۵مه په مراکش (المغرب) کې د ۲۵ اسلامي هېوادونو له خوا جوړ شو. افغانستان هم یو له دغو ۲۵ هېوادونو څخه وو، چې د دغه کنفرانس د بنسټ ډېره یې کېښوده.

د دغه کنفرانس لومړۍ غونډه، د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ترمنځ په ۱۹۷۰ کال کې د سعودي عربستان په جده ښار کې وشوه او د اسلامي همکاری سازمان دویمه ناسته بیا په ۱۹۷۴ کال کې په لاهور کې وشوه.

د اسلامي همکاری سازمان له ملګرو ملتونو راوروسته دویم ستر نړیوال سازمان دی او دا مهال د افغانستان په ګډون له څلورو لویو وچو څخه ۵۷ هېوادونه پکې غړیتوب لري. د دغه سازمان مهمه موخه، د غړو هېوادونو ترمنځ د یووالي او همکاری پیاوړتیا ده او په اقتصادي، فرهنګي، علمي او نورو ډګرونو کې د غړو هېوادونو ترمنځ همکاری هم د دغه سازمان په موخو کې شاملېږي. د هغو شخړو او جګړو پر مهال چې د دغه سازمان کوم غړی هېواد پکې طرف وي، د مسلمانو ملتونو د ملاتړ په موخه، د ملګرو ملتونو له سازمان سره هم د همکاری او مشورې په کچه کې اړیکې لري.

د دغه سازمان لومړۍ نوم، د اسلامي کنفرانس سازمان و، چې د ۲۰۱۱ کال په جون کې د دغه سازمان د بهرنیو چاور وزیرانو په

۳۸مه غونډه کې چې د قزاقستان په پلازمېنه استانه کې جوړ شوی و، د اسلامي همکارۍ سازمان ته واړول شو.

د اسلامي همکارۍ سازمان د ناکامۍ لاملونه

د اسلامي همکارۍ سازمان چې په ۱۹۶۹ کال د کومې موخې په اړه جوړ شو، تراوسه د هغې موخې په ترلاسه کولو کې ناکام شوی. د اسلامي همکارۍ سازمان ته هغه مهال ډېره ضربه ورسېده، چې کله د اسلامي نړۍ ځینو هېوادونه په خپلو کې د فکري، ایډیالوژیکي او فرقه‌یي اختلافاتو له کبله په سړو او ان ګرمو جګړو کې هم ننوتل. د بیلګې په ډول د ایران-سعودي سړه جګړه؛ د ایران-عراق جګړه، په مصر او نورو هېوادونو کې کودتایي رژیمونه.

دا چې اسلامي نړۍ او د اسلامي همکارۍ سازمان، سره له دې چې د دغه سازمان غړي هېوادونه د نړۍ د نفوس ۲۲سلنه او د انرژۍ ۷۰ سلنه تولیدوي، ولې ونه کړای شول، چې خپلو موخو ته ورسېږي او ځان د یوې واحدې نقطې په څېر وښیي؟ لاملونه یې په لاندې ډول دي:

- **د شیعه-سني ستونزه**؛ په ایران کې د اسلامي انقلاب له راتګ سره، په سیمه او نړۍ کې د شیعه مذهب پلویانو یو داسې حکومت چې اساسات او اصول یې پر شیعه مذهب ایښودل شوي وو، ترلاسه کړ. له همدې ځایه د ایران اسلامي انقلاب د نورو اېډیالوژیکي ګوندونو په شان د خپلې اېډیالوژۍ او مذهب صادرول هم پیل کړل، په دې اړه په سوریه، افغانستان او عراق کې د ایران هلې ځلې د همدې خبرې ښکارندوی دي.

په ایران کې د شیعه اسلامي انقلاب له راتګ سره، اسلامي نړۍ په بنسټیزه توګه په شیعه-سُني بلاکونو وویشل شوه او له همدې ځایه د ایران-سعودي؛ ایران-مصر-؛ او ایران-ترکیې ترمنځ سړې جګړې پیل شوې، له ایران-سعودي پرته په نورو برخو کې یوازې یو څو ځله د دغو هېوادونو ترمنځ اړیکې نېسې شوې.

- **د اسلامي هېوادونو ترمنځ ناحل شوې شخړې**؛ د یو شمېر اسلامي هېوادونو ترمنځ هم د استعماري پېر له مهاله داسې ناحل شوې شخړې پاتې دي، چې د دغو هېوادونو په بهرني سیاست اغېزې کوي او بیا په پای کې د اسلامي همکارۍ سازمان هم اغېزمنوي. د دې ترڅنګ یو شمېر نورې ناحل شوې شخړې هم شته دي. د بیلګې په ډول د پاکستان او افغانستان ترمنځ سرحدي ستونزه، په منځنۍ اسیا کې د اوبو د وېشلو په تړاو ستونزه او نور د اسلامي همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ داخلي اختلافات.
- **د مشرۍ پر سر سیالي**؛ د مشرۍ پر سر سیالي هم یوه له هغو قضایاو څخه ده، چې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته اسلامي نړۍ ورسره مخ ده. سعودي، ترکیه، ایران، مالیزیا، اندونیزیا، مصر- او پاکستان هغه هېوادونه دي، چې هر یو یې ځان د اسلامي نړۍ د مشرۍ وړ بولي.
- **له نړیوالو زبرځواکونو سره د اسلامي نړۍ د غړو تړاو**؛ د سړې جګړې پرمهال د دغه سازمان د ناکامۍ یو عمده لامل دا هم وو، چې اسلامي نړۍ هم په درېیو بلاکونو کې ویشل شوې وه: یو بلاک په کاپیتالیستي بلاک کې و، بل د شورویانو تر اغېزو لاندې او بل بیا د ناپېلتوب په غورځنګ کې و. له همدې کبله دوی ونه شو کړای، چې د مختلفو قضایاو په اړه یو غږ خپل کړای شي.
- **د اسلامي نړۍ سیاسي جوړښتونه**؛ د ناکامۍ بل لامل په خپله د اسلامي نړۍ د یو شمېر هېوادونو اساسي قانونونه یا په خپله حکومتي جوړښتونه وو. په ډېرې هغو هېوادونو کې، چې سیاسي جوړښتونه سره ورته وي، هلته د اتحادیې سازمانونه بریالي کېږي، د بیلګې په ډول اروپایي ټولنه.

افغانستان او د اسلامي همکارۍ سازمان

افغانستان یو له هغو لومړنیو هېوادونو څخه و، چې د اسلامي همکارۍ سازمان بنسټ یې کېښود. همدا راز په عرب-اسرایلي جګړه کې یې د عربانو په ملاتړ اعلامیې صادرې کړې. هغه مهال چې شورویانو پر افغانستان یرغل راوړ، نو د اسلامي همکارۍ سازمان اړیکې له افغانانو سره ډېرې نږدې شوې. دغه سازمان د شوروي پرضد د اعلامیو وراخوا له افغان مجاهدینو او کډوالو سره په مختلفو برخو کې پراخې مرستې وکړې.

د شورویانو له وتلو وروسته هم، دغه سازمان د افغانستان د قضیې (کورنۍ جګړې) د حلولو په موخه ځینې هلې ځلې وکړې؛ خو له بده مرغه ناکامې شوې. د افغان طالبانو د حکومت له ړنګېدو وروسته په افغانستان باندې د امریکایي یرغل په اړه د اسلامي همکارۍ سازمان څه ونه شو کړای او نه یې هم غږ پورته کړ.

وروسته په افغانستان کې د جګړې له تودېدو او د ناامنیو له زیاتېدو وروسته، د اسلامي همکارۍ سازمان وخت ناوخت د افغانستان د

قضـيې د حل په موخه د سـولهييزې تګلارې سـپارښـتنه وکړه. په همـدې موخـه يې پـه ۲۰۱۱ کـال يې پـه کـابـل کې خپلـه ځـانګـه پرانيسـته. خو تر اوسـه يې د افغانسـتان د قضـيې په اړه د شوروي- يرغل پراو په پرتله، کوم فعال او رغنده رول نه دی لوبولی.

وروستی (۱۳مه) غونډه

د اسـلامي همکارۍ سـازمان ۱۳مه غونډه د روانې میلادي میاشـتې اپرېل په ۱۴مه او ۱۵مه (پنجشـنبه او جمعه) د ترکيې په مشرۍ د شـاوخوا ۳۰ اسـلامي هېوادونو د مشرانو په ګډون په استانبول کې جوړه شـوه، چې له افغانستانه هم د مـلي وحـدت حکومـت اجرائي رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله ګډون پـکـې کـړی و. د غړو هېوادونو د مشرانو ترڅنګ د دغو هېوادونو د پارلمانونو رئيسـانو او بهرنيو چارو وزيرانو هم ګډون کړی و.

په ۱۳مه غونډه کې د يمن، عراق، فلسـطين او همدا راز د کډوالو پر موضـوع ګانو او په ټوله کې د اسـلامي نړۍ د وضعيت په اړه بحثونه وشول.

د دې غونډې ترټولو مهمه موضـوع د سـوريې قضـيه وه، خو له سـوريې څخه چا ګډون نه و پکې کړی. د سـازمان سرمنشـي ـ ايادامين مـدني په دې اړه له غونډې مخکې ويلي وو: «موږ په سـازمان کې د سـوريې غړيتوب ځنډولی دی. موږ د سـولې له خبرو اترو ملاتړ کوو. د سـوريې په راتلونکي کې د بشـارالاسـد ځان نه وينو او باور نه لرو چې هغه به د حل لارې يوه برخه وي. ټوله سـتونزه خپله همدی دی» خو دا هغه دريځ نه دی چې د سـازمان ټول غړي دې ورسره موافق وي؛ بلکې په دې غونډه کې د سـعودي پادشـاه ملک سـلمان او د ايران ولسـمشر ـ حسـن روحاني ګډون کړی وو، چې له دغو دواړو سـيمهييزو رقيبانو څخه يو يې د بشارالاسد ګوښه کېدل غواړي او بل يې ملاتړی دی.

د اسـلامي هېوادونو ترمنځ اختلافـاتو هم پـه دې غونـډه سـيوری غوړولی و. په دې سرمشـريزه کې د سـوريې د نه ګډون ترڅنګ يو بل سـتر غايب هم د مصر ولسـمشر عبدالفتاح السيسي و، چې پر ځـای يې د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزير ګډون کړی و. د ترکيې او مصر ـ اړيکې د مصر ـ پر منتخب ولسـمشر ـ محمد مرسي له کودتا وروسـته خړې پړې شـوې، چې د سعودي عربستان له منځګړيتوب سره سره، لا هم نه دي عادي شوې.

له دې سره سره په دې غونډه کې هڅه وشـوه، چې د اسـلامي نړۍ اختلافات د هواري په لوري ولاړ شي. د ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان د شيعه او سني قضيې او نورو مذهبي قضيو د حل غږ وکړ او دا يې د اسلامي نړۍ ستره ستونزه وبلله. نوموړي وويل:«زما دين شـيعه يا سـني نه دی، بلکې زما دين اسلام دی».

د دغې غونډې په اختتاميه بيان کې حزب الله ډلـه پـه سـوريـه، بـحـرين، کوېـت او يمن کې پـه ترهګريزو کړنو کې د ښکېلتيا له کبلـه غـنـدل شـوې وه او د ايران سـياستونو ته هم د غندنې ګوته نيول شوې وه. په دې غونډه دغه راز د فلسطين د قضيې لپاره هم د (۲۰۱۶-۲۰۲۵) کلونو لپاره يوه کړنلاره جوړه شـوه. د دې ترڅنګ د سـازمان د سرمنشي ـ په وينا، په اختتاميه بيان کې تر ۲۰۰ زياتې پربکړې شاملې دي.

د اسلامي همکارۍ سازمان راتلونکی

د اسـلامي نړۍ او د اسـلامي همکارۍ سـازمان راتلونکی تر ډېره له اقتصـادياتو سره نښلول شوی؛ ځکه سياسي اختلافات به اوس او په راتلونکي کې هم پـه طبيعي ډول د اسـلامي نړۍ دننـه موجود وي (له سياسي اختلافاتو څخه خلاصون تر ډېره ناممکن بربښي).

لـه همـدې ځـايـه ده، چې د اسـلامي نړۍ او د اسـلامي همکارۍ سازمان دننه د اروپايي ټولنې په څېر د اقتصادي راکړې-ورکړې او د علم، ټکنالوژۍ، سـاينس او نورو برخو کې يو بل ته د بې‌ځنډه پولو پرانيستلو اړتيا زياته شي.

د دې ترڅنګ د دکتور مهاتير محمد د ۲۰۰۳ کال د هغو سپارښتنو اړتيا، چې ده د دغه سازمان د ۲۰۰۳ کال په غونډه کې پرې ټينګار وکړ (لکه سياسي جمود، اقتصادي وروسته‌والی، د ډيموکراسۍ او د اسـتازيتوب وړ حکومتونو نه شـتون)، اوس هم ليدل کېږي، د دې ترڅنګ بايد په اسـلامي نړۍ کې د شـفافيت او ځواب ورکونې له زياتولو سره په يو شـمېر برخو کې اصـلاحات هم رامنځته شي. په هغه صورت کې بيا کيدای شي، چې دغه سازمان او اسلامي نړۍ د يوې حقيقي همکارۍ په لور ولاړه شي.

اخذ امتحان مسابقه ستاره معارف افغانستان رسماً آغاز یافت!

مسابقه ستاره معارف که از سوی بزرگترین حرکت جوانان (نهاد جوانان مسلمان) یا نجم به راه انداخته شده است، امتحان ابتدائی آن در برخی از ولایات کشور اخذ گردید.

مسابقه ستاره معارف که به اساس معلومات مسؤولین نجم در ۲۵ ولایت کشور به راه انداخته شده است و در آن بیش از یکصد هزار متعلم اعم از پسر و دختر شرکت کرده است.

نهاد جوانان مسلمان (نجم) که از چندین سال برای ارتقای ظرفیت و تربیه سالم نسل جوان برنامه های مختلف برگزار کرده است و اخیراً بزرگترین مسابقه تحت عنوان (ستاره معارف) که در طول تاریخ معارف کشور بی سابقه خوانده شده است به راه انداخته است که از سوی بیشتر متعلمین و جریان های مختلف استقبال گرم شده است.

قابل ذکر است که امتحان مسابقه ستاره معارف در ولایت های هرات، بلخ، کابل و برخی ولایات دیگر اخذ گردیده که هزارن جوان در آن اشتراک نمودند و امتحانات این پروسه در ولایت دیگری کشور ادامه دارد، برای برنده گان مسابقه جوایز متعددی در نظر گرفته شده است، که بعد از اعلان نتائج محفل توزیع جوائز برگزار خواهد شد.

اندیشه‌ی مدنی در مبانی استدلال اسلامی

نویسنده: مهنا الحبیل

ترجمه: دکتور عبدالظاهر سلطانی

پیش از ورود به بحث منابع و آفاق اندیشهٔ مدنی در شریعت و فقه اسلامی، باید مقدمه‌ی مهمی را به عرض برسانم. این مقدمه به کشمکش مربوط به واژگان تعلق دارد. گرچه قاعدهٔ معروف اصولی می‌گوید: «لا مشاحة فی الاصطلاح» (واژه روشن است، جای بحثی نیست) یا (بخلی در واژگان نیست)، اما واقعیت فرهنگی و فکری تاریخ معاصر اسلامی شاهد جنجال‌های گسترده‌ای پیرامون واژگان بوده و هست. همین به شعله‌ور شدن کشمکش‌های فکری تندی در زمین اندیشهٔ اسلامی یا بین اسلامگرایان و جریانات فرهنگی و عربی در دو سوی سکولاریسم یا افراد مستقل منجر گردیده است. هم‌چنین درگیری با کسانی که می‌توان آنان را روشنفکران تکنوکرات نامید، یعنی افرادی که به ارزش مفهوم و واژه در زندگی جامعهٔ مدنی بدون پس زمینه‌های ایدئولوژیک اهمیت می‌دهند .

بدین ترتیب، گزینش واژه در اینجا قضیهٔ مهمی است و همین سبب شد تا از واژهٔ «اندیشهٔ مدنی در شریعت» برای تعیین نمادهای مورد نیاز در اندیشهٔ اسلامی معاصر بهره ببرم، نه اصطلاحاتی که از بین رفته یا معنای آن تحریف گشته است یا کاستی درک فرهنگی در وضعیت کنونی جهان اسلام باعث نپذیرفتن آن می‌شود، با اینکه این اصطلاحات برای بینش معاصر اسلامی و مشترکات زندگی مدنی در کنار گرایش‌های دیگر، نکات مثبت مهمی هم دربردارد .

منظورم از «اندیشهٔ مدنی» هر چیزی است که امور یک مسلمان و شریکان ملی یا انسانی‌اش را سامان بخشد، خواه در عرصهٔ ساخت زندگی و مشترکات توسعه، خواه در عرصهٔ بیان و بهره‌مندی از امکاناتی دنیوی که شریعت با قاطعیت آن را حرام نکرده است، خواه در حالات اجتماعی فرد یا ارتباط با درون انسانی و محیط زندگی خودش یا مراکز قانونی که ممکن است از این مفهوم بریده باشند .

بخش دوم همان فقه قانونی، نظام‌ها، قوانین و مقررات مربوط به افراد، گروه‌ها و عرف‌های قانونی و حقوقی است که با زیرساخت‌های مربوط به تنظیم امور حکومتی معاصر و مقررات عدالت محور آن در هم ادغام شده است، خواه حکومتی که پس از طی مراحل سخت، جنگ داخلی یا برخورد سیاسی نظامی خشن در ساختاری نوین پدید آمده است و خواه حکومتی که برای نوسازی زیرساخت‌های قانونی و حقوقی خویش می‌کوشد و جامعه خواستار تبیین موضعگیری شریعت در این باره است .

باید هم اینک قضیهٔ بسیار مهمی را توضیح دهم و آن اینکه اندیشهٔ مدنی در فقه شرعی به معنای کنارزدن فقه و فتوا، و در مقابل، ساختن نظرات عارضی برای رخدادهای جدید طبق قاعدهٔ عمل به زیان سبک‌تر، دفع مفاسد و غالب ساختن منافع بزرگ‌تر نیست، تا حکومت یا جامعه به چکیده‌ای قانونی و کامل برای زندگی جدید با افقی اسلامی برسند. در نتیجه نظر و فقه دچار رکود و جمود گردند تا کشمکش نظامی یا سیاسی تمام شود. و در توجیه گفته شود که تنها راهکار همان حکومتی است که با افقی محافظه کارانه یا افقی جدید از اندیشهٔ مدنی اسلامی، شریعت را اجرا کند. این اشتباهی بزرگ است و باعث چالش‌ها و دشواری‌هایی می‌گردد که ضرورت‌های پنجگانه را از بخش‌های وسیعی از جامعه از بین می‌برد، بدتر از ملتی که دچار اشغالگری یا استبداد شده‌اند .

بلکه هدفم دقیقا آن است که فایدهٔ فتوا برای بیرون بردن جوامع از مشکلات، به عنوان مثال، فقط این نیست که فورا شریعت اجرا و اعلان گردد، بویژه که هنوز چگونگی این مفهوم در اوضاع کنونی جهان اسلام رشد نیافته و روشن نشده است و در روش‌ها و ابزارهای آن بین فقیهان اختلافات گسترده‌ای وجود دارد و بر شیوه‌ها و تدوین پشتوانهٔ قانونی و یاریگر آن توافقی حاصل نشده است .

ولی طبیعی است که توافق‌نامهٔ انتقالی و مورد قبول همگان برای خروج از بحران باید به گونه‌ای تنظیم گردد که حاوی موادی مخالف با شریعت یا امور قطعی در کشورهای اسلامی نباشد. البته تجارب زندگی سیاسی مسلمانان در غیر کشورهای خودشان، باید طبق جلب منافع و دفع مفاسد و

به گونه‌ای باشد که مساحت بیشتری از مصالح را برایشان در سرزمین‌های هجرت و غریب فراهم کند، زیرا مسلمانان امروزه بخشی از این کشورها شده‌اند .

به همین خاطر خون‌ها، قربانیان و نبردهای فراوانی به علت قرار نگرفتن در مسیر درست، تا کنون درکشورهای اسلامی هزینه شده است. اگر بیرون‌رفت از وضعیت کنونی خوب است و از نظر عقلی از کشتار، هرج و مرج و نبردهای خونین جوامع، بهتر و پذیرفتنی‌تر است، پس باید مبنا همان دور انداختن افراد خودکامه و اختلاسگر باشد، نه اجرای فوری شریعت پسندیده، زیرا در حال حاضر چنین زمینه‌ای اصلا وجود ندارد و خلأی که جوامع معاصر جهان اسلام با آن سروکار دارند، بسیار گسترده است و از ارزش‌ها و هنجارهایی که نسل نخستین بر آن بودند و پیامبر ــ صلی الله علیه و سلم ـ آن‌ها را پدیدار گردانید، بسیار به دورند .

اینک نوبت می‌رسد به تعیین نشانه‌های اساسی برای پی‌ریزی قواعدی که در درک مبانی استدلال به کار می‌آید و آن‌گاه گذاشتن ملاک حکم در اندیشهٔ مدنی، به عنوان یک مقدمه در مرحلهٔ تدوین قانون اساسی یا عرف فرهنگی اسلامی در نوع درک از زندگی مدنی. هدف این‌جا بیان خطوطی کلی است، نه ذکر توضیحات قانون گذاری این شیوه و برنامه .

این نشانه‌ها به سه گروه تقسیم می‌شوند :

یک. سکوت قانون گذار و شارع در برابر مساحت گسترده‌ای از أمور دنیا در یک جامعهٔ مدنی و نیز فقه قانونی ــ حتی در صورت عدم ورود این واژگان در گذشته ــ یک اصل قانونی و شرعی قابل اعتماد است. هر کس با این مخالفت ورزد و بکوشد تفصیلات وارده در دوران اول را بر زمان حال بقبولاند، در حالی که با مقاصد شرعی منطبق نیست، به یقین اشتباه بزرگی مرتکب شده و چیزی را واجب کرده که شریعت مطهر آن را واجب ندانسته است .

دو. تعیین حکم و کیفر برای کارهای شخصی که از نظر شریعت مکروه است، اما عقوبت معینی ندارد، و حتی آن را به پارسایی فردی واگذاشته است که مردم در آن متفاوت هستند، و شریعت از افراد تنها آمرزش در آن باره را خواسته است، این نوع تعیین‌ها، قانون گذاری از پیش خود است که فقه شرعی کسی را به آن ملزم ننموده است .

طبیعت و عرف مردم و ملت‌ها در این موضوعات مختلف است و چیزی است که از دوران کهن و هنگام رسیدن دعوت پیامبران در بین ملت‌ها جای گرفته و دعوت پیامبر ــ صلی الله علیهم و سلم ــ پایان‌بخش آن‌ها بوده است. لذا با توجه به مناطق و کشورها، هنجارها و ارزش‌ها یا ضد ارزش‌ها در هر جامعه‌ای فرق دارد. در عین حال که خود مردم یک منطقه نیز متفاوتند، اما نباید در اصل فضایل عمومی اخلال ایجاد کند یا در اخلاقیات و هنجارهای مردم خدشه وارد نماید .

نزد گذشتگان امت و نسل نخستین، شیوهٔ پیگیری یا کنج‌کاوی دربارهٔ مسائل خصوصی مردم یا افشای موارد پنهانشان مرسوم نبوده است، حتی پیامبر ــ صلی الله علیه و سلم ــ آن را نکوهش کرده و صحابه وتابعان بر این امر اتفاق نظر داشتند. اگر کسانی هم در بین امت به ایجاد تنگنا و سختگیری علاقه داشتند، اما دلیلی از اجماع برای سوارشدن بر گردن مردم نداشته و ندارند .

سه. مبانی اندیشهٔ مدنی در فقه و شریعت با توجه به مقاصد شرعی و بررسی سیرت حاکمان و علمای مستقل صالح از این مبانی شایسته و موجود در زندگی بشری بیشتر نیست :

عدالت اجتماعی، آزادی‌های سیاسی، رفاه و برابری اقتصادی، حقوق شایستهٔ شخصی و تبلیغ دین .

اختلاف نظر اندیشهٔ مدنی در فقه شرعی با برخی از مجموعه‌های جامعهٔ مدنی نوین و چند گونه، در چهار نکتهٔ اساسی اول است، گرچه مساحت توضیحات هر یک محدود است، اما مورد پنجم مخصوص فقه شرعی و از لوازم رسالت اسلامی است که نمی‌توان به عنوان یک مفهوم از آن گذشت. ولی اجرا و قانون گذاری، مساحتی دارد که به سختی می‌توان برای آن قانون تعیین نمود .

مطالب کوتاهی همانند این در اندیشهٔ مدنی فقه شرعی، اگر بررسی شود و بر آن و مفاهیمش تثبیتی صورت گیرد، بسا باعث کمک به جنبش‌های معاصر اسلامی گردد تا از لغزش‌های گذشته عبور کنند، زخم‌های عمیق را ترمیم نمایند و باعث تدوین یک فرهنگ برای درک اسلامی معاصر گردند که کاستی‌هایش گلوی جوانان را می‌فشارد و بسا ایشان را به وحشیگری و تندروی دینی مسلحانه و غیر مسلحانه سوق دهد یا نبودن چنین درکی بسا سبب نبردها و کشمکش‌هایی شود که نیروی جامعه را هدر دهد و دیگر نتواند در برابر اشغالگران و خودکامگان بایستد و آن‌گاه بهار مسلمانان نابود گردد.

با سپاس از پایگاه اطلاع رسانی اصلاح

د عبدالمصور فرخاري نيول کيدل

قاضي محمد حسن اسلامي

د دارالعلوم په هره غونډه کې به د پيل تلاوت په ده کيده، ښکلی او زړه رابنکونکی، خوږ تلاوت يې کاوه، د هغه نوراني څېره نری توره ږيره يې پر مخ هلال جوړاوه په کتو يې سړی نه مړيده، ډېره خندا يې نه کوله،درونډ مزاج يې درلوده، زه به کله کله د دهمزنګ دکلالانو جومات ته ورتلم او بيا به د جمعې لمونځ مو د خپل استاذ مولوي راز محمد نايل سره کاوه، هغه ښه خطيب او مبارز سړی ؤ چې بيا د هجرت په شپو کې په چارسده کې په حق ورسيد، الله تعالی دې وبښي. نو لمونځ به مو ورسره اداء کړ ښرته به دده جومات ته راغلو، قاري صيب خوږ سړی ؤ، خو د خليقانو په مزاج تريخ لګيده، ښه فکري مطالعه يې درلوده، د محمد امين ناصريار سره به ګرځيده او هغو ته به قاضي غلام محمد پغماني طوطي ويلو.

قاري عبدالمصور له اووم تولګي څخه زما ټولګيوال ؤ، او بيا په لږ وخت کې مو د فکر د همرنګی له برکته ملګري لاپسې غښتلې شوه، او کله کله به مو ورسره اختلاف هم کاوه خصوصا هغه وخت چې هغه په ټولګي کې د محمد ادريس سره په يوه چوکۍ کښيناستل پيل کړل او تحريکي نوټونه به يې په هغه ليکل او نور رازونه يې هم ورسره شريک کړل سره له دې چې هغه د دومره باور هلک نه ؤ، هغه په اخلاقي لحاظ هم تشې درلودې او بيا په فکري بې لاری هم واوښت سازماني شو، اوږدلي مې وو چې بيا په شمالي کې دخپلې سيمې په شاوخوا کې مجاهدينو تر تيغ تېر کړ.

قاري صيب هم دده له لاسه خراب شو، د تره کي د کودتا لومړی کال دی دری يا څلور مياشتې لانه وې تېرې شوې چې قاري صيب يوه دوه ورځې ټولګي ته رانغلوو خو فکر کوم يوه پکې دجمعې ورځ وه،رخصتي وه، نو ډېره پته يې ونه لګيده او غيرحاضري يې له مونږ څخه هم هېره وه چې سهار يې کلک وربوز وهلی ؤ او ټولګي ته ترهېدلی رانتوت، ټولګيوالو يې د حفظ له امله تل درناوی لاره، روغبړونه ورسره پيل شول. ما ورته وويل قاري صيب ولې د وربوز ترلی، مريض خو به نه وې؟ راته کړل يې : (سخت مريض هستم همراه ما غرض نګير بريم رخصت بګير)څه ډېر وخت لا نه ؤ تېر شوی چې زمونږ يو بل درونډ او مشر ټولګيوال خواجه محمود را څنګ ته شو، خوله يې غوږ ته رانژدې کړه وې ويل : خبر شدي مصور ريش خود تراشيده، زه هک پک حيران شوم، چې خدايه څه اورم، دا هم لکه چې خلقي شو دا به نو ډېرخطرناک وي چې داسې ځان يې د اخواني په جامه کې وهلی ؤ، ما ويل ولې دی هم خلقي شو؟ ده وويل نه! مسلمان! گرفتار مي شد، پوليس از خانه تا مسجد همه را پشتش پاليده، او فرار کرده فاميل خود به شمال برده پيش خسرش مانده وخودش آمده از ترس گرفتاری ريش خود را تراشيده، تا شناخته نشود! ، ما وويل: نو دلته کمونستان له چا شرمېږي چې نه به يې نيسي؟ ده وويل: خی چی کند؟ ماورته وويل: هجرت کند! زه به يې لاره ورته برابره کړم، هغه وويل: خوب است ما همرايش گپ ميزنم! خواجه صيب هغه دهليز ته ويوست او له لږ څنډ وروسته زه ور ووتلم وې ويل : مي گويد طرف مزار مارا کسې نمی شناسد مارا در همان طرف روان کنيد که در انجا کار کنم زود افشا نمی شوم، ما پشتو ره هم ياد نداريم از سرحد تيرشدن هم مشکل است.

ماورته وويل : زه دادی د مريضی په بهانه صحي کلينيک ته استعلام اخلم ، ورځم له ملګرو سره مشوره کوم خو قاري دلته مه پرېږده ولاړ دې شې چې پوليسو له جوماته تر کوره دوه شپې تعقيب کړی حتما دلته ورپسې راځي، ورته ووايه ووزه! ساده گي مه کوه!

زه چې را وتلم خپل بل هغه ټولګيوال ته مې چې په ټوکه کې ويلې ؤ چې صاحبزاده صيب د اسلام له برکته ډوډۍ خوري او نن چې په اسلام سخته ورځ راغلې هېڅ غمه يې نه خوري؟ هو! وايي: ټوکه نيمه ريښتيا وي، ما هم دده احساسات را ژوندي کول غوښتل، ويل يې څه خدمت وکوو امر کوه ستا ويل زما منل، ،وردګه کوم وخت مې تا بيغيرتي ليدلې ده؟ ماورته وويل ګوره دامتحان شيبې دې ډېرې نږدې دي !پرې وا به د ړوم، ده وويل د مړي کله په قيامت نده رضا؟ وايه څه وکوم؟ زه خو هر خدمت ته تيار يم، ماو ې دا مريدان دې را بيدار کړه او ددې سرو په خلاف چې يو څه کولو ته يې آماده کړو! ده وويل: زه په مال او سر او مريدانو حاضر يم غږ کوه ما ورته وويل ښه يوه ورځ به دې د ځينو ملګريو سره معرفي کړم، نور به هغوی درته وايي چې څه وکوم، ده وويل ګوره مونږ په لوګر او شمالي کې داسې مريدان لرو چې هر څه ته آماده دي کار وايه!

نو همدا نن مې ښه فرصت باله چې محمد قاسم صاحبزاده همدا نن راسره بوځم هغه ته مې وويل: ورشه د صحي کلينيک په پلمه استعلام راواخله چې لاړ شو اوهغو ملګرو ته دورولم، هغه په خوشالی لاړ او ما بيا خواجه صيب ته وويل: دا قاري ژر وباسه! چې وبه نيول شي، دادی زه لاړم، عبدالرحمن چې د ټولګي دوهم نمره ؤ په اشارو کې مې پوه کړ چې زه لاړم په حاضری او ترقي تعليم فکر ساته نور راووتلم. د محمد قاسم سره يو ځای د شوربازار پر لور وخوځيدو هلته مو مولوي صيب سبحان الله وليد او د قاري کيسه او ددې صاحبزاده جريان مو ورته وويلو، ده وويل: قاري ژر را ورسوه مزارشريف کې دکار ډېر ضرورت دی هلته به يې وليږو، او د محمد قاسم صاحبزاده په اړه مو چې مخکې هم ورته لنډ ګزارش ورکړی ؤ اوس مو ورته وويل: دا هغه صاحبزاده دی نور د کار او دده د آمادګی حد او حدود به له ده څخه خپله واورې، دوی دواړو کيسه پيل کړه.

هو! دا څه عادي خبرې نه وې دکمونيستي نظام د ظلم او وحشت څخه د ولس د ژغورنې په اړه ستر ستر تصميمونه نيول کيدل، د ملت د فکر، عقيدې، مادي او معنوي ارزښتونو څخه د دفاع فکر او سوچونه ؤ . د روس په مټ اقتدار ته د رسيدلي منفور نظام څخه د خلاصون او ددې هېواد د لويدلي برم او عظمت د احياء غم او فکر ؤ هر چا غوښتل چې کرار کښينه نې او خپل مسؤوليت تر سره کړي د خدای او ولس په وړاندې ځانته د نجات سند تر لاسه کړي. هو! د بدلون او تغيير فکر او هلې ځلې وې، همت يې غوښت او ميړانه، ايماني يون او انقلابي جذبه ورته په کار وه او کنه د حالاتو سره سازش خو د هرکمزوري د وس کار ؤ د سمندر له روان جريان سره خو مړه کبان هم حرکت کولی شي، خو د هغې مخالف لوري ته تګ او توپاني څپې ماتول عزيمتونه غواړي او عظمتونه، د شوربازار په ختيځو اطاقونو کې د روسې ميګ او ګن شيپ هليکوپترو د مقابلې خوبونه ليدل کيدل .

خو هغه دپرون خوبونه رښتيا شول هغه د نن حقايق دي او ان شاء الله د نن خوبونه به د سبا ورځې روښانه حقايق شي.

مولوي صـيب چې په کوم ايماني ډاډ او باور خبرې کولې قاسـم صـاحبزاده ورته حيران حيران کتل! هو د مولوي سبحان الله بشاشه تکه سپينه څېره او تکه توره نرۍ ږيره او توره پګړۍ عينکې پر سـترګو او په متانت سره پدې محقره کوټه کې دومره سـترې خبرې کول د صـاحبزاده تعجب نور هم زياتولو او بيا يې پر لارو راته ويل دا خو عادي انسـان نه ؤ له سـترګو او څېرې يې نور خپرېدو ، آيا تا نه ليدو ؟ ماورتـه خندل ولې هلکـه! وې ويـل نـه نـه پـه يوه خبره کې يې هم څـه نه وايم خو ډارېږم چې په سترګو نه شي، الله دې وساتي .

له مولوي صـيب څخه ژړغونی را رخصت شولو، او بيا يې پر ما غږ وکړ چې کوښښ وکوه چې قـاري را ورسـوې چې خدای مه کړه ونه نيول شي، ما اورېدلي دي چې د تحريک ستره سرمايه به شي چې ضايع نشي! ماوويل سمه ده . الله حافظ

پر لاره چپ، چپ روان يو، لږ چې راغلو وې ويل : وردګه! دا څه نمونه نمونه ملګري دې دي هو هلته يې په يوه کنج کې ابراهيم هم وليد چې غلی ناست ؤ او تلاوت يې کاوه او بيا يې په اوښلنو ستړګو اوږده دعاء وکوله!

بيا سره جلا شـوو پوه نه شـوم چې هغه مخکې ؤ او که زه؟ خو د دارالعلوم د نوي تعمير دروازې ته چې د ده بوري له خوا سيلو ته دغزيدلي سړک پر غاړه ؤ ورسېدم، پيره داران خفه او وارخطا ناسـت دي، را پاڅيدل وې ويل : دخاد تور موټر راغلی ؤ! زړه مې ما ويل بوټ ووت. ما ويل: بيا؟ دوی وويل : سـتاسـو هغه قاري يې بوتلو. ځان مې را کنټرول کړ ما ويل خير څه اشـتباه به يې وربانديې کړې وې را پرېږدي يې! دوی ويل نه! نه! دې حکومت په دين پسې را اخيستې نه ملا پرېږدي نه قاري او حافظ، رب دې زر پرې چپه کا، دوی پر مـا ډاډه وو، خو ما احتياط کاوه او ځان مې د وارخطايۍ څخه را بچ کولو، مدرسـې ته له ننوتلو سره سـم مې سرمعلم سـيد محمود آغا مخې ته راغی وې ويل: حسـنه چېرې تللی وې؟ ژر مې استعلام له جيبه راويوسـت يو څو دانې متحدالمال ګولي يې چې راکړې وې ورته را ومې ايسـتلې، صـحي کلينيک ته تللی وم لږ مريض...،خبره مې يې په نيمايي کې راپريکړه : دې قاري ږيره ولې خرېيلې وه؟ ما ووېل کوم قاري وې ويل: مصـور، ماوويل : ږيره / زه خو خبر نه يم سهار مې وليد مخ يې په څادر کې تاو کړی ؤ، ويې ويل: ريزش يم ! ما ويل نو تا پوښـتنه تړې ونکړه؟ ښـه د جزا لايق دی سرمعلم صيب! اوس په دې خبروهسې خپله حوصله اوچتوم! ده هېڅ ځواب رانکړ.

مخ پر ټولګي روان يم چې عبدالرحمن مې مخې ته راغئ : قاري يې اداري ته ببولی ما غلې ورته ووېل: شـورمه کوه! هغه يې وړی دی:چېرې؟ خادته! ځان مه پوهوه دخاد تورو شيشو واله موټر راغلی ؤ! هغه دېر زړه سواندی هلک ؤ، ژړغونی شو.

زه پوه شـوم چې ټولګي کې لا څوک له اصـل جريانه نه دي خبر! هغه روان شـو ما ځان يوې بلې خواته غلطاوه، د قاري دنيول کيدو ترڅنګ د شـوربازار د تګ په افشا کيدو هم پريشـانه وم، خو کوښـښ مې کاوه ځان عادي ونيسـم! هغه ټولګي ته ننوت لږ ځنډ وروسـته زه هم چې ټولګي ته ننوتم، ټول غلي دي او د هر چا سـترګې د يوې حادثې غمازي کوي! او د خواجه صـيب رنګ له ټولو زيات الوتی، زما په لور راګوري او زه ځان نه پوهوم.

هو! هغه خو له ټول جريان څخه خبر ؤ! د حالاتو د عادي کولو کوښښ مې وکړ، ما ووېل: کوم کوم درسـونه مو ووېل: يوه خبره راغبرګه کړه! حسنه! له درسه پرته بله خبره دې خولـه کې نشـتـه! بـل ووېل: پرېږده با با هغه چې ويلي د دي څه توره به پرې وکړې؟ يو بـل ټنبلـک ځـان کش کش کړ ويې ويـل: درس مرس پـه درد نـه خوري، انقلابي ځوانان شئ! انقلابي!! د تورې ارتجاع مقابله وکوئ!! روشنفکريی په کار ده، نورو ټولګيوالو يوه بل ته حيران، حيران وکتل.

د رخصتي زنګونه وکړنګيدل له ټولګي چې را ووتلو، د نورو ټولګيو هلکان چې د قاري په وړلو خبر دي په سـترګو سـترګو کې زمونږ د ټولګيوالو پر خوا را ګوري، ته به وايې چې ددې سـترې غميزې تسـليت وړاندې کوي، يو يو نيم يو بل ته ورځنګ ته شي چې دا ولې څه کيسه وه؟

هو ټول پوهيدل چې د يوه قاري، حافظ، ملا امام، خطيب، ډاکټر انجنير او شـاګرد بـه څـه جرم وي؟! خو دا خلقيان يو هم نه پرېږدي، مونږ ټولو په زړه کې ويل خدايه خير کړې؟ هو! پـه ټولـه مـدرسـه د غم تور پېڅول خپور ؤ، قاري عبدالمصـور څه ناپېژندل شوی کس نه ؤ.

دسرو قطبي ايرو بـدرنګ تـاريخ خو لـه چـانـه پـټ نـه دی، هو! خـدايه دا زمونږ په افغاني ايرو څه وشـول د هلاکو او چنګيز تاريخ او ناکردې يې له خلکو هېرې کړې! هو! له قاري صيب عبدالمصور سره چې له دې سختو شېبو وروسته څه شوي پس له شـپږ ديرشـو کالو هم څوک پوه نشـول، دومره خبره يقيني ده چې هغه سره، او سـاړه توپان وخوړ ! تر څو يې د مرګ تر کومې رسـاوه، او د دار تر سره بيوو ، څه ناکردې به يې پرې کړې وي د هغه قرآن او کتاب به دې لا دينو او ظالمو خلقيانو څو څو واره ستايلی وي؟ هو! د هغه سپين نازک بدن سرو ليوانو ته په لاس ورغی، په همغه کلونو کې خو ډېر ځله داسې شوي چې ډاکترنجيب! هو جنرال نجيب !! چې دخاد رئيس ؤ پـه خپلـه لـه عسـکري دريشـي او خربوټونو سره پر کوم زنداني د تحقيق په دوران کې به چې وريښې شو نو بيا به يې ټولو خادیانو او مستنطقينو ته داسـې يو تجربوي او عملي مختصـر درس ورکاوه: متهم به يې را ځملاوه او په ستوني به يې له بوټ سره پښه ورته کيښوده ورته ويل به يې د ارتجاع بچيه! اوس ووايه! خدای شـته کنه! که وي نو ورنارې کړه چې خلاص دې کړي!!(العياذ بالله) پروردګار خبر دی چې پـه څـه ظلمونو به يې دا نيول شـوي بې ګناه مظلومان وژلي وي، که کومه داسـې سـياسـې ګناه يې هم وای نو پرته له علني محکمي يې ولې وژل؟ هو! تره کي بـه ويـل: خلقي ملګرو! انقلابي عمل کوئ، سـړک مې درته پوخ کړی، پـه سـل ميله پرې ورځئ! که مچ هم ددې انقلاب مخالفت وکړ، په توپ يې وولی! توره ارتجاع مو په ګوندو کړې پر سـينه يې ناسـت يو پر سر سر يې ووهئ! چې بيا سر درڅخه را جګ نه کړي!

فعـال خلقي ځوان بـه هغـه ؤ چې ډېر خلک ونيسـي او ډېر راپورونه خلقي دولت ته ورکړي او د ملا او قاري د جرم لپاره خو د هغه ږيره او پګړۍ هغه دليل ؤ چې نور يې ثبوت او تورې سـپينې ته اړتيا نه وه! نو د ظلمونو پدې انډوخر کې به د اسـلام په خوان حافظ او د قرآن په راشـد شـاګرد څه تېر شـوي وي الله د د ټولو اجر په آخرت کې ورکړي.

هو! څـه ځوانی، څه اسـتعدادونه د کمونيزم په تبې وريت شـول، دملت سـترې بشري پانګې ته څومره صدمه ورسېده؟ د علم او سواد څخه بې برخې ملت چې يوه يوه نيم سـړي د زړه په وينو لوی کړی او تعليم پسـې يې اسـتولی ؤ ځنګه د شـمال سړې سيلۍ وخوړل؟.

ددې ملت پـه حال ژړا په کارده، که پر مصـور ژړا نه درځي په ناوکې او بوره مور او بوډا پلار يې وژاړئ! ښـه وژاړئ، جومات، خطابت او منبر ياران او ملګري ټول تړې پاتې شول.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
مورخ ۸۸
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت درکشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

مرکز تشخیصیه
لابراتوار طبی سفیر

Safir Medical Laboratories

لابراتوار طبی سفیر
یک نام مطمئن در عرصهٔ
اجرا معاینات معیاری لابراتواری

هرنوع معاینات لابراتواری از قبیل بیوشیمی، سیرولوژی، روتین خون، ادرار، مواد غایطه، TFT,Semin Analysis پتالوژی و کلچر با سامان و لوازم مجهز و مدرن لابراتواری توسط دوکتوران و تکنالوجستهای مجرب با معیارات لابراتواری اجرا میگردد.

Safir Medical Laboratory Diagnostic Center

آدرس:
کابل، منزل دوم سپین زر پلازه، نزدیک سینما بهارستان کارته پروان.
۰۷۹۹۱۵۲۳۲۹-۰۷۷۲۱۲۸۵۸۳
غزنی: منزل دوم اپارتمان دوم فرخی هوتل بازار صرافی شهر غزنی
۰۷۰۰۹۲۸۴۹۸
لغمان: شهر مهتر لام بابا، مقابل ریاست برق مارکیت حاجی طاؤس
۰۷۹۹۸۷۸۴۲۳ - ۰۷۷۸۴۵۵۷۷۸
Email:
safirlab_kbl@yahoo.com

مژده برای علاقمندان کتاب

کتاب، دروازه ای است به سوی جهان گسترده دانش و معرفت. کتاب، همچون خورشید، فضای زندگی را روشن می کند و به همگان نور، شور و گرما می بخشد. کتاب، مثل باران بر سرزمین دل ها می بارد و اندیشه ها و کردارها را رونق، زیبایی و طراوت می دهد و انسان را به بلندای علم و دانش می رساند.
جمعیت اصلاح افغانستان به غرض بلند بردن سطح علمی ومعلوماتی هموطنان عزیز کتابخانه ی به نام سیدجمال الدین افغان را تأسیس کرده و این کتابخانه در خدمت شما عزیزان است و می توانید از این فرصت استفاده کنید. این کانون کتاب با بخش های:

- تفسیر و علوم قران
- حدیث و اصول حدیث
- فقه و اصول فقه
- تربیت و دعوت
- سیرت نبی علیه السلام و سیرت صحابه رضی الله عنهم
- داستان انبیاء علیهم السلام
- عقیده و فکر
- تزکیه و تصوف
- زن وخانواده
- اقتصاد
- طب
- انجنیری
- جغرافیه و تاریخ
- ادیان و مذاهب
- معاجم
- کمپیوترساینس
- ژورنالیزم
- زراعت و دامداری
- سیاست
- حقوق
- زبان و ادبیات
- روان شناسی
- جامعه شناسی
- دایرهٔ المعارف
- شخصیت ها
- و...

استفاده از کتابخانه رایگان است

فرصتی است برای شما در تحقق آرزوهای شما؛ بیایید از این فرصت طلایی برای رفع عطش علمی خود استفاده نمایید و به بلندای علم و دانش قدم گذاریم.

اوقات استفاده از کتابخانه سیدجمال الدین افغان:
این کتابخانه از ساعت ۸:۰۰ صبح – ۵ عصر در خدمت شماست
روزهای شنبه خاص برای خانمها

آدرس: خوشحال مینه؛ عقب بلاک های شاداب ظفر، کوچه اصلاح، کتابخانه سیدجمال الدین افغان. شماره تماس: ۰۷۰۰۱۷۲۴۵۶

AIMA

کلینیک دیوان بیگی

داکتران مجرب، لابراتوار مجهز،ادویه با کیفیت

مکان خوب برای معالجه و چیک اپ عمومی شما واظفال تان.

با همکاری تخنیکی انجمن طبی اسلامی افغانستان.

موبایل: 0782040294 - 0202563051 - 0202563050

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۶ ساعت نشرات در شب و روز
شماره تماس:0780201435